13

کابل

د ۱۳۳۶ کال دقوس (اوله)
د ۱۳۷۷ کال دجمای الاول اول
د ۱۹۵۷ کال د نومبر (۲۳)

2 - FEB 26
Copy ____ 1958

Nov. 23, 1957

پەدی گڼەکښی :

خدمتگار - چینی ادب - دژبی پیدایښت.....
هغه روحی حرکت..... - چه میړونه وی ...
دغمونو قافلی - دامید غوټۍ ته - خونی -
دبحرابادسمڅی - دتاجکستان اکادمی....
شهیدان - افغانستان د.....
د تاریخ د تحول ....
کتاب - جبران خلیل
راغلی لیک
ولولئ

پر له پسی گڼه ٤٤٥

خدمتګار

هلته یو ړوندبې لارې روان و، هغه په سمه لاره روان کړ مګر ړوند پوه نشو چه د ده رهبر څوك دی ؟

یو بل په خوازه خوب ویده و. له څنګه ئې یوه منګری سر را اوچت کړ هغه په بېره وواژه او وېده همدغسې ناخبره پاته شو .

دشپې په مسجد کښې ناروغه مسافر زګیروی کول او ډېر ناقراره و، هغه ئې په خدمت کښې شپه سبا کړه، مسافر سباوون خواته مړ شو او خپل زړه سواندی خدمتګار ئې و نه پېژانده .

هغه په لاره روان و، یوه ماشوم ته ئې یو موټی میوه ور کړه، یوه تېزی ته ئې په بیدیا کښې او به ور کړې، له یوه وږی سره ئې خپله ډوډۍ نیمه کړه مګر یوه هم و نه پېژانده چه دا سړی څوك دی؟

هغه له دې لوئې لارې نه ډېر کاڼی او اغزی لرې کړه مګر څوك چه سبا او بل سبا پدی لاره راځی د هغه له خدمت نه نه خبر ېږی او هغه نه پېژنی. **په رښتیا چه مونږ خپل خدمتګاران نه پېژنو او باداران ډېر ښه پېژنو .** «الفت»

(۲۰۷ کال)

(۱٦) گڼه

کابل

پښتو ژبنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

د امتیاز خاوند: د پښتو ټولنه

د پښتو ټولنی مشر: گل پاچا «الفت»

مسئول مدیر م، د، « ژواك »

پته: کابل نادر پښتون واټ دیل خشتی دیله مقابل د تیلفون لمبر (۲۱۲۹۱)

چینی ادب

داشعر دچین دابی کتاب «د سکولر» څخه ترجمه شوی دی چه دچین ډیر لوی لیکوال «وو- چینگ- تزو» په انگریزی ژبه تألیف کړی دی. «ژواك»

سره له دی چه انسانان په ژوند کښی دډول ډول لارو او ذوقونو خاوندان دی.
لوی سیاستمداران دی که هغه «روحانیون چه په ابدی ژوند ورته قایله یاست»

* * *

دوی ټول دژوند پرهمدغه دو لیارو چار او ناچار تلونکی دی چه یوې ته «لوړ» او بلې ته «ځوړ» ویل کیږی.

* * *

که تاسی دې حقیقت ته ځیر شوی یاست چه سهار شپه هم لری او د سیندو نو بادونه هغه زړی ونی هم نړولای شی چه زمانی یو وخت برم هم ور په برخه کړی وی

* * *

نو دزمانې دفنا او بقا قانون په یوه شان له زړه مه باسیء
او د آرزو لمن دومری مه غوړویء چه بیا ئې را تولیدل ستاسی په قدرت او توان کښی نه وی

* * *

که تاسی د گلانو د رژیدلو پاڼو هغه څپانده حال د سر په ستر گو لیدلای شیء چه وروسته له رژیدلو دروانو او بو په سر لیدل کیږی او یو وخت د همدغه گلانو پاڼی په ډیر ناز دونو په څانگو کښی ځنگیدلې:

* * *

نو لاس ته د رغلی عاریتی قدرت، شهرت او عزت ته په لازوا له ستر گه مه گوریء
په همدې شان دا جهان - دځان دپاره یوازی دلذت او خوند په برخه ډك مه گڼیء
خو که دا خیال لریء نو ستاسی دا تصور دلیدونکو ستر گو د پاره یو خطا یستونکی گمان دی نه بل شی.

ښاعلی حبیب الله «تېزی»

دژبی پیدایښت او تکامل

په تېره ګڼه کښې ما داوېلی ؤ چه په بله ګڼه کښې به دژبې دپیدایښت، څرنګوالی او پرمخ تګ په برخه خبرې وکړم، دادی دخپلی وعدې سره سم به دې ګڼه کښې ورباندې غږېږم مګر ددې دپاره چه په دغې برخه کښې کومی درستې او مثبتې نظریې ته ورسېږم لومړی باید دژبې دمطالعې په باره کښې څه نه څه ووایم ترڅو بیا دې ته راشم چه دژبې دخلقت او تدریجی تکامل نظریه څه وخت میدان ته راوو ته اما څرنګه چه دمضمون په تنظیم او تعریفاتو کښې زما اتکاډېره په خپل فکر ده نو دنقص امکان هم پکښې زیات دی چه دپوهانو څخه یې دکره کولو هیله کوم. «تېزی»

دژبې لغوی او اصطلاحی معنا که څه هم چه زما برغه له آره دژبې دجوړښت او تکامل مطالعه ده مګر داهم ضرور راته برېښی چه پخوا دژبې دمطالعې څخه دژبې دتعریف او معنا په برخه کښې څو کرښی وکاږم.

ژبه په لغت کښې هغه دغوښې توته ده چه دننه په خوله کښې پرته او دخوراك او څکاك د مزې دکتلو له کبله د ذایقی حاسه بلل شوی ده اما په اصطلاح کښې دپښتو «ژبه» دیونانی لوګوس «Logos» دانګلیسی لیګوېج Language او د عربی «لغت» هغه سم شوی آوازونه دی چه دغږیزجهاز دبېلو بېلو مخارجونه په ځانته ځانته بڼو را ایستل کیږی او دانسانانو ترمنځ دیو بل دپوهولو او راپوهولو یا مطالبو، افکارو، خیالاتو او احساساتو دښکاره کولو دپاره استعمالیږی مګر څرنګه چه په خبرو او ګړېدا کښې دژبې برخه زیاته ده نو له دې کبله دغه آله چه مونږ د افکارو، خیالاتو، مطالبو او احساساتو دښکاره کولو یا دیو بل دپوهولو او راپوهولو وسیله وبلله د «ژبې» په نامه یاده شوه.

دژبې دمطالعې سیر او اهمیت:

ژبه دبشر دژوندانه په تاریخ کښې دومره اهمیت لری چه هیڅوك هم ستر ګی نه شی ورڅخه پټولای.

ځکه هغه یو ازنی ډېره ستره وسیله چه انسانانو دلومړی سرنه خپل افکار، خیالات، مطالب او احساسات ورباندې څرګند کړی، ژبه او یا دتولنو ترمنځ دپوهولو او راپوهولو تقریری وسیله ده، مګر سره له دومره اهمیته بیا هم څرنګه چه ښایی په پوره اندازه تر تحقیق او څېړنې لاندې نه ده نیول شوې یا په بل عبارت په دې برخه کښې چه ژبه څنګه پیدا، او یا څه ډول متکامله شوه؟ څه مثبت او اساسی فکر نه دی شوی. دژبې د پیدایښت دڅرنګوالی په فلسفه کښې دتجربب او مشاهدې له مخې څوك نه دی غږېدلی بلکه تل یې

په عنعنوی او ظاهری مطالعه بسنه کړی ده.

داولی؟

ژبپوهان وایی چه د دې کار ډېر ستر علت ښایی اعتیاد دی ځکه کله که سړی لږ څه ځیر شی نو به دې خبرې ته ډېر ژر ورسیږی چه انسان د ډېر اعتیاد له مخې د ځینې فوق العاده شیانو د څرنګوالی په برخه کښې هم څه فکر نه کوی بلکه تل، که وکړای شی کار ترې اخلی او تېر یږی ځینې.

مثلاً کله چه کوم سړی د پخلی په کوټه کښې د خوراك د پخولو او یا په کوم نغری کښې د ځان د تودو او د پاره اوربلوی. نو ګمان کوم چه هیڅکله هم په دې فکر کښې نه لویږی چه آیا بشر د خپل پېدایښت له ورځې نه د الهام په زور د «اور» سره آشنا شوی او د خپلې ګټې د پاره یې استعمال کړی او که په «اور» هم د نورو اختراعاتو په څېر پخپله د انسانانو د ډېرو زیاتو تجربو او پرله پسې الوځلو محصول دی چه وروسته له ډېرې زیاتې مودې ورباندې روږد شوی دی.

دغه ډول انسان د څرخ سره چه د بشر د تمدن په تاریخ کښې یوه بې ساری او ډېره لرغونې اختراع ده، دومره عادی شوی چه د پیدایښت او اختراع په برخه کښې یې څه فکر هم نه کوی. بلکه داسې ورته بریښی چه یا ده پخپله جوړ کړی او یا د لومړی سر نه د کومې الهامی قوې په واسطه پیدا شوی دی، چه نن یې جوړول د میراث په توګه ډېر ساده او د هرچا د لاسه پوره بولی. ځکه ده د څرخ سره دومره اعتیاد پیدا کړی چه د هغه د پیدایښت د څرنګوالی یا اهمیت په برخه کښې د تفکر موقع هم نه ورکوی، دی، دې ته هیڅکله نه متوجه کیږی چه د نړۍ ننني «څرخ» د انسان د همدغی لرغونی اختراع د څرخ په واسطه څرخیږی. بلکه فکر یې تل په دې برخه کښې وی چه څرخ څنګه جوړ شی او استفاده به څه ډول ترې وشی؟ ماده یې څه وی؟ سور یې څومره وی او اوږدوالی. یې کومې اندازې ته ورسیږی؟

اما د هغو شیانو په برخه کښې چه یې جوړښت ورته نوی بریښی (سره له دې چه تر اور، او څرخ به ډېر زیات بې اهمیته وی) په اصطلاح فیلسوفانه فکر کوی او وایی چه آیا دا به څنګه جوړ شوی وی؟

لکه څنګه چه څوکاله پخوا د پښتونخوا او سېدونکی د رادیو یا الوتکی جوړښت په حیرت کښې اچولی وو. البته دلته هم ښایی داو نه انګیرل شی چه ګوندی ټول خلك د تعجب او یا د یوه شی په برخه د تفکر نه وروسته د هغه شی په ماهیت ډك پوهېږی، بلکه دا یو ښکاره حقیقت دی چه وګړی یا عادی خلك د یوه شی د څرنګوالی په برخه کښې د علت او معلول د پیدا کولو په اساس فکر نه کوی بلکه ظاهری برخه یې ګوری او کیسی ترې جوړوی. مثلا کوم وخت چه په لومړی سر کښې دورېځې او باران په برخه کښې انسانانو فکر وکړ نو یې په اصل او ماهیت پوه نه شول بلکه دومره یې وکړه چه یې زمونږ د عوامو په څېر دوېرې او طمعې له مخې یو لړ خبرې

پرې وکړې او کیسې یې ترې جوړې کړې . د اسې چه دنا پوهۍ او عجز له مخې ورېځې او باران ته هم د ډېرو نورو شیانو په څېر دالوهیت په مقام قائل شول . ځکه په علت او معلول نه پوهېدل او هر څه ته یې خدایی مرتبه ورکوله .

دغه ډول ژبه هم په همدې ترتیب د ډېر اعتیادیا عامیانه تفکر له مخې د انسانانو د درستې توجه وړونه گرځېده او د هغې د پیدایښت د څرنگوالی په باره کښې یې څه ژور او یا علمی فکرونه کړ . بلکه کله یې ساده خبرې پرې وکړې او کله ئې د تنفس یا تگ په څېر د انسانانو سره د لومړی سر نه ملگری او یوه طبیعی حادثه یا خدایی تحفه وبلله چه دا عقیده زمونږ په وگړو کښې تر اوسه هم په عنعنوی ډول موجوده ده مگر وروسته بیا په ورو ورو له دغه فکر نه وگرځېدل .

دژبې د مطالعې لرغونی بڼه :

څرنگه چه فکر د مغز محصول او مغز په خپله ماده ده نوله دی کبله د انسان د تفکر طرز هم د خپل مادی محیط تابع گڼل کیږی . چه د دی خبری ډېر ستر اثبات دادیبانو افکار او یا د هغوی د مادی محیط انعکاسات دی . مگر څرنگه چه محیط پر دوو ډولو یعنی طبیعی او اجتماعی محیط ویشل کیږی ، دغه ډول د تفکر په طرز کښې هم طبیعت او جمعیت دواړه اغېزه لری یعنی کله که له یوی خوانه یو نفر په کنډواله کښې یو ډول او په بنگله کښې بل ډول فکر کوی نوله بلی خوا په مدنی او غیر مدنی یا ښاری او کلیوالی ټولنو کښې هم د انسانانو د تفکر طرز تو پیر پیدا کوی ، چه په دی برخه کښې د خبری د لنډولو د پاره نور نه غږیږم او د خپل مطلب د سرته رسولو د پاره له همدی څو کرښونه استفاده کوم .

مطلب دژبې لرغونی مطالعه ده چه دا دی خبری پری کوم څرنگه چه په لرغونو مهالونو کښې هم د نن په څېر ټولنو او محیطونو تو پیر سره لاره نوه تفکر طرز ئی یوشان نه ؤ بلکه هری ټولنی ځانته د تفکر طرز لاره ، مثلاً د (۲۰۰ـ۵۰۰ ق م) پیړیو په شاوخوا کښې د یونان محیط او اجتماعی سازمان د نورو سیمو له اجتماعی جوړښت او محیطی شرائطونه تو پیر لاره دغه ډول ئی د تفکر طرز هم بیل ؤ هغه شیان چه نورو خلکو ته سطحی او عادی بریښدل دوی ورته په فوق العاده او فلسفی نظر کتل چه مونږ دغه د نظر خاوندان فیلسوفان افکار ئی فلسفه او یونان د فیلسوفانو زانگو بولو . په دی وخت کښې د یونان د ټولنی ځینی کسانو چه په خپله د هم هغی ټولنی محصول ؤ د ټولنی د څرنگوالی ، د حکومت د ډولونو او د خیر او شر د اصالت یا بیلوالی په برخه کښې خبرې وکړی چه په دی لړ کښې دژبې جوړښت ته هم ځیر شول او پر دی سوالونو یې بحث وکړ چه :

دژبې جوړښت څنگه شوی دی؟ د شی او نامه تر منځ اړیکی څه ډول دی ، آیا طبیعی او که غیر طبیعی ؟

افلاطون په «Cratyls» کښې (۳۴۴-۴۲۷ ق م) د کلما تو پر منشا او پیدایښت باندی خبری کوی او د نامه او شی د اړیکو په برخه وایی چه د یوه شی او د

هغه دنامه ترمنځ اړیکی لازمی او طبیعی دی ، یا په بل عبارت هغه نوم چه په یوه شی کیښودل شوی او یا کیښود کیږی ددغه شی طبیعی نوم او له آره دهمدغه شی دی چه پری کیښودل کیږی دافلاطون دغه خبری مونږ دژبی دڅرنګوالی دمطالعې په برخه کښی تر ټولو نه لومړنی بحث بولو چه د کلماتو دپیدا ښت او دنامه اوشی داړیکو په برخه کښې شوی دی .

دغه ډول هردوت «Herodotus» چه سل کاله پخوا له میلاده ژوندی او د یونان ډیر ستر مورخ ؤ په خپل مشهور تاریخ کښی د مصر دیو پاچا کیسه کاږی او وایی :

«Perimmatichus» پریما تیچس دمصر پاچا ددی دپاره چه کومه پرګه دانسان لومړنی تبر دی؟ دوه نوی زیږیدلی کوچنیان په بڼ کښې یوازی پرېښودل. کله چه یې په ګړېدا پیل وکړ نو یې ډوډۍ ور ته وروړه ، کوچنیانو Bekos و بلله چه په فریژی کښی ډوډۍ ته وایی (۱) :

البته په دې باره کښې چه آیا داپورته کیسه رښتیا ده او که دروغزه څه نه وایم بلکه مطلب د کیسې لیکلو څخه دادی چه د «هردوت» په وخت کښې هم دژبی دڅرنګوالی په برخه کښی خبرې روانې وې .

په عمومی ډول سره کوم پوهان چه دژبی دڅرنګوالی په برخه کښی غږیدلی دی په دوو ، ډلو وېشل کیږی چه یوه ډله یې آنالوجستان «Anologists» او بله ډله یې آنامولستان «Anomolists» بلل کیږی.

آنالوجستان هغه ډله پوهان دی چه وایی ژبه یوه طبیعی حادثه ده او منطقی آساس لری. نوله دې کبله دوی آنالوجستان او یا دژبی دسمون لرلو دنظریې پلویان بلل شوی .

اما آنامولستان د آنالوجستانو دنظریې مخالف دی او وایې چه په ژبه کښی ټول شیان تر تنظیم او قاعدی لاندې نه راځی بلکه ډېر داسی شیان هم پکښی پیدا کیږی چه قاعده نه لری ، نوله دی کبله باید وویل شی چه ژبه طبیعی حادثه نه شی کېدای بلکه وضعی شی دی چه پخپله د ټولنې له خواجوړه او متکامله شوی ده .

آنالوجستان په دې عقیده ؤ چه د نومونو معنا دهغوی دتجزیی او اشتقاق په واسطه په ډېرښه ډول سره څرګند ولای شو . مثلا کله که مونږ د «شین طوطی» کلمه داشتقاق له مخې مطالعه کړو ، نو به ووینو چه نوموړې کلمه له دوو برخو یعنی «شنه» او «طوطی» څخه جوړه شوې او معنایې هغه طوطی ده چه بڼه ئې شنه وی .

دغه د مطالعی ډول د «Ethymology» اتمولوجی یا داشتقاق دعلم په نامه یاد شوی چه هره کلمه به ور باندې څېړل کېدله او آره به یې څرګندېدله .

په دې لاره کښی آنالوجستان دومره مبالغې ته ورسېدل چه

(1) Language by leonurd (1) Bloomfield professor of Germanic philology in the univer - City of Chicago Nw York

دهري کلمې دتسمیې وجه ئې سره پلټله.

د «Lytos» د کلمې په برخه کښې چه په یونانی دډبرې معنا لری وایی :

دا کلمه له آره د «Liantheen» یعنی دځغاستلو څخه راوتلی ده چه معنایی ځغلانده کیږی.

حال دا چه پخپله ډبره هیڅ نه ځغلی بلکه کراره پرته وی.

دلته زما مطلب ددوی داشتقاق دصحت او یا غلطۍ څرګندول نه دی بلکه مطلب دادی چه دوی هم دنومونو دتحول عقیدې ته رارسېدلی وو. داخبره یی منله چه نومونه او کلمات هم دتطور داصل سره سم له یوه مهاله بل ته تغییر پیدا کوی اما داخبره هم باید وشی چه هره کلمه دخپلی ګېډې نه تفسیرول یوازې دلرغونو آنالوجستانو کارنه ؤ بلکه په پښتو کښی نن هم ډېر داسی فاضلان پیدا کیږی چه لنګو سټك او فلالوجی یوازی اتمولوجی چه دژب پوهنی یوه ډېره کوچنۍ څانګه ده بولی او په وچ کنك زور یوه کلمه بلی ته ورسموی.

لکه داچه یوه ورځ چا د کوم ښاغلی ستاینه کوله.

او ویل یی چه پلانی هم په فلالوجی کښی ډېر لوی لاس یا په اصطلاح اوږدې پښی لری. دلیل یی داوو د «قطغن» د کلمی داصالت پیدا کول دهمده ابتکار دی.

دغه ښاغلی پورته کلمه «قطغن» داسی تفسیر کړی ده :

د «قطغن» کلمه جوړه شوی ده د «قطه» یا «کته» او «غن» یا «غنم» څخه چه دواړه یی سوچه پښتو کلمی دی. نوله دې کبله «قطغن» هم سوچه پښتو کلمه او دهغه ځای په معناده چه: «کتی = پالان» او «غنم» زیات پکښی پیدا کیږی.

داډله خلك زما په عقیده برسېره پردې چه دژب پوهنی یوه ډېره پراخه موضوع یوازې اتمولوجی ته خاصوی یا اتمولوجی ته فلالوجی وایی او خپله ناپوهی څرګندوی، رښتیا چه ابتکار هم کوی مګر دژبی په مسخره کولو او شرمولو کښی ځکه پرته دیوی پوهی دمنظم تحصیل او یا څه نه څه لوستلو یا دڅو قوی آثار و د مطالعه کولو څخه

(تردې ځایه چه یې د تعریف تقسیم او موضوع نه هم نه وی خبر) بې علمه شیخی کول دی او دبې علمه شیخۍ په برخه کښې همدا بس ده چه پښتانه وایی:

څوك چه بې علمه شیخی کاندی هم هغه کفر یې بس دی.

خیر په هرصورت مطلب داؤ چه انالوجستان دا تمولوجی ډېر تینګ طرفداران وو او دا یې ویل چه دآشیا وو نومونه ددوی طبیعی نومونه دی، نه وضعی. نوله دې کبله دهرشی دنامه معنی دهغه دظاهری بڼې او تجزیې څخه په ښه توګه سره څرګندېدلای شی، مګر داخبره هم څه حقیقت ته نژدی خبره نه وه ځکه ډېر داسې نومونه دی چه په ظاهر کښې یوه معنالری او وروسته له تجزیې څخه بل څه ترې جوړشی.

مثلا په انګلیسی کښې د. بر کفاسفت «Break fust» کلمه مرکبه ده له «breah» او «fust» څخه چه له آره دروژه ماتی معنالری

(پاته په ۹مخ کښې)

دښاغلی عزیز الرحمن سیفی ترجمه

هغه روحی حرکت

چه منثور او منظوم ادب او اخلاقی نظام او فلسفه ور څخه راپیدا شول

هر روحی حرکت په نړۍ کښې عقلی نتیجې لری او دهر حرکت قیمت او اهمیت د هغه معنوی اثر او معنا او معقولیت او هغه تاثیر په اندازه چه په مادی او روحانی لیکنو او نورو چارو کښې ئې کړی وی تاکل کیږی .

په دې اساس اسلامی تصوف د هغو روحی حرکتو نو څخه دی چه د دی حرکت په اثر منثور او منظوم ادب میدان ته راووت او دې ادب یو داډول اخلاقی نظام میدان ته راوایست چه په ډېرو اسلامی ټولنو کښې ئې یو داډول نفسی اداب را پیدا کړل چه تر نن ورځې پورې په خلکو کښې موجود دی . دې د یاره چه دا پورته مدعا ښه څرګنده شی نو باید مونږ د دی موضوع په شا او خوا کښې څېړنه وکړو او په دې لړ کښې هغه فکری حرکت ته ځیر شو چه د اسلام دظهور نه وروسته را پیدا شو. په دې لړ کښې قرآن مجید هغه لومړی منزل کتاب دی چه دخپلو منونکو او تابعدارانو توجه ئې د کائناتو او مخلوقاتو اسرارو او عجائباتو نه را وګرځوله او په خلکو کښې ئې دطبیعت دجمال او دخلقت دجلال دمطالعې مینه پیدا کړه . هر کله چه دا روحی غذا پاک خدای د آسمان نه را نازله کړه نو د خلکو روحونه ئې داسې روښانه کړل چه ددغې رڼا په اثر هغه عقلونه چه په سوو کالو دجهل او ناپوهۍ په پردو کښې نغښتی ؤ بیخی آزاد شول او دبیری او توهماتو او خرافاتو پردې ئې څیری کړی او دعقل په ستر ګوئی د کائناتو حقایقو او د طبیعت جمال ته وکتل .

په دې لړ کښې دعلم کلام دپوهانو پوه ډله میدان ته راووتله چه د اخلاق په اصطلاح کښې د معتقداتو دفلاسفه ؤ په نوم یادیږی . دې خلکو دواجب الوجود په حقیقت یعنی دپاک خدای په ذات او صفاتو بحثونه وکړل ..... او هر کله چه په دې لړ کښې دنقلی بحثونو څخه خلاص شول، نو په عقلی بحثونو ئې ګوتې پورې کړې، او دې پرو اوږدو بحثونو څخه وروسته ورته دا حقیقت څرګند شو چه عقل دپاک خدای دوجود دثبوت او نفی ددلیلونو د اقامې په لیار کښې شل او ګوډ دی چه دا نظریه ددې فن دپوهانو په اصطلاح کښې د (تکافؤ الادلة) په نوم یاد یږی د دې پر تعجب ورخبره داده چه کانت المانی فیلسوف دپنه زرکاله وروسته (نقد العقل الخالص) نومی یو مشهور کتاب لیکلی دی .

په دې کتاب کښې دی داهم وائی چه هر کله د اسلام پوهان د بحث او مباحثې وسائلو نه اړ شول نو دیونان فلسفې نه ئې مراجعه وکړه او دیونانی ژبی څخه ئې

د منطق هغه کتابونه په عربي ژبه ترجمه کړل چه ارسطو په منطق او په سوسیولوجي علم کښې لیکلي و. له دغو کتابونو څخه ځینې کتابونه کندي ترجمه کړل (دا کندي دهغه معروف عرب فیلسوف څخه بل کندي دي) او د دغو کتابو او مختلفو نظریاتو په مرسته ئې ډېر جګ فلسفي نظریات او نا آشنا مفکورې میدان ته را وایستلې او له ډېرو بحثونو او پلټنو نه وروسته د «تکافوء الادلة» مفکورې ته را ورسېدل. ډېرو پوهانو دا کوښښ وکړ چه الهي ذات دعقلي بحثونو ددائري څخه وباسي او دا دې دپاره چه دهغه پاك ذات له دې شیانو څخه ډېر جګ او پورته دي، او له دې کبله چه د انبیاء علیهم السلام مقام ډېر محترم دي نو هغوی ئې هم دعقلي او فلسفي بحثونو د کړۍ څخه وایستل؛ لیکن په دې لړ کښې دا خبره هم یوه ډېره ضروري خبره وه چه دخلکو په زړونو کښې دخدای په وجود کوم دلیل قایم کړي که څه هم دا دلیل دعقل دلیاري نه، بلکه له بلې لیاري څخه وي، په دې وخت کښې صوفیان او یا په بل عبارت دعقائدو فلاسفه میدان ته راووتل او دوی خلکو ته دشهود نظریه وړاندي کړه، لیکن داشهود په خپله اصلي معنا یعني دکتلو او اورېدلو او یا په بل عبارت د ظاهري حواسو په معنا نه دي او دا ځکه چه حواس اکثر خطا کېږي او خپل خاوند په غلطۍ کښې اچوي، لیکن دغه شهود په قلب او فواد و کېږي او فواد نه خطا کېږي او نه تېروځي.. نو ګرا که ذکر، سلوك او وصول او شهود په زړه کېږي او دهمدې شهود په خصوص کښې پاك خدای وائي:

«ما کذب الفواد ما رای»

له همدې اساس څخه اسلامي صوفیانو او یا په بل عبارت دعقائدو فیلسوفانو ټول اطوار او دمبادي او کتابونه او فلسفې او ادبي او علمي الهام مبادي او عقلي امور وظواهر میدان ته را وایستل او شریعت او حقیقت ئې سره جلا او بېل کړل محاسبي هغه لومړي اصولي صوفي دي چه په اصولي او فني ډول ئې ددې روحي عجیبه علم اساس او بنسټ کېښو داو دا ټول دادبي تاریخ دخصوصیاتو څخه دي، لیکن په دې ځای کښې غټه او دتوجه وړ خبره داده چه اسلامي صوفیانو له دې کار څخه کومي عقلي او یا دفلسفي نظم نتیجې واخستلې.

مونږ داویلي شو چه اسلامي صوفیانو له دې څخه څلور عقلي او فلسفي نتیجې واخستلې.

۱- تجلي او صدور: ددې مفکورې امام «سیرافي» دي.

۲- اشراق: ددې نظریې امام حضرت «جنید» دي.

۳- وحدة الوجود: ددې نظریې امام «سهروردي» دي.

٤- حلول: ددې مفکورې امام «حلاج» دي.

په دې څلورو مسلکونو کښې ډېر زعیمان او شیوخ تېر شوي دي او په دې لیارو کښې ئې ډېر تالیفونه او کتابونه لیکلي دي او په دې لیارو کښې پوره شهرت لري. په دې ځای کښې به دا خبره بې ځایه نه وي چه د دوی په شا او خوا کښې د دوی لږو ډېر

حالات څرګند کړو، که څه هم
دامبادی دوی ته منسوب دی
لیکن حقیقت دادی چه ددې
مبادیو اشباه له
دوی نه پخوا په هند، مصر
او یونان کښې هم موجود و،
پخوا نیو مصریانو به د خپلو
فراعنه ؤ عبادت دې د پاره
کاوه چه په دوی کښې
ددوی دمعبود یا زیوس روح
ننوتلی دی او یا په بل عبارت
دزیوس روح پکښې حلول
کړی دی او له دې کبله دی
زمونږ معبود دی. او
وحدة الوجود یو هندی برهمائی
مذهب دی چه دهندوانو مذهبی
کتابونه ورڅخه ډک دی؛
داشراق مذهب یو یونانی مذهب
دی چه د افلاطونی متحدثاتو
څخه راویستل شویدی؛ په دې
ځای کښې ځینی پوهان دا نظریه
لری چه که څه هم ددې اسلامی
صوفیانو دمبادیو او دهغو فلسفی
او دینی او نورو مسلکونو په
منځ کښې به چه په هند او مصر
او یونان کښې ئی وجود درلود
لږ و ډیر شباهت موجود وی مګر
دا کار ددې خبری دلیل نشی

کېدلی چه دوی به له دغو
مبادیو څخه استفاده کړې وی،
دوی په دې خبره پوره عقیده
لری چه داسلامی صوفیانو
مبادی د قرآن او حدیث
څخه استنباط شویدی چه ددې
مدعی داثبات دپاره له مونږ
څخه ډیر نصوص او دلایل موجود
دی، او کوم خلك چه دا نظریه
لری او ځینی مؤرخین او ناقدین
داعقیده لری چه داسلامی صوفیانو
اصول له دوی څخه پخوا په هند
او مصر او یونان کښې موجود و،
نو ددوی داخبره ځکه معقوله
نه ده چه په دغه وخت کښې
مسلمانان دهند او مصر دتاریخ
سره هیڅ بلد نه وه او داځکه چه
دوی په دغه وخت کښې ددوی
په ژبو بیخی نه پوهېدل، او که
فرضاً ځینی پوهېدل هم مګر دغه
خلك د کهانت په اسرار واود
هیکلونو په خفایاؤ نه پوهېدل،
ځینی هغه عرب پوهان چه عیسائی
دین ئې قبول کړی ودوی په
یونانی ژبه پوهېدل او دهغو
فلسفه ئې ترجمه کړې او په ډیر
غور ئې لوستلی وه لکه چه فارابی
او ابن رشد هم په یونانی

فلسفه ډیری شرحی لیکلی دی
مونږ په سر کښې وویل چه
اسلامی صوفیانو فلسفه او ادب
او اخلاق میدان ته راوایستل
او دوی نه وروسته نورو خلکو په
اخلاقی نظام ډیر کتابونه
ولیکل چه له دې کتابونو څخه
رساله قشیریه، او د «مکی»
قوت القلوب، او د امام غزالی
احیأ علوم الدین مهم کتابونه
دی؛ د دوی په اصلاح کښې
اخلاق دښو او جګو عادتونو
مجموعه ده چه شجاعت او اخلاص
او وفا او جګ همت ددې اخلاقو
ښکاره مثالونه دی؛ لیکن د
صوفیانو ادب د منظوم او منثور ادب
هغه ډکی خزانې دی چه ترنن
ورځی پوری د کتابونو په پاڼو
کښې محفوظی پرتې دی چه دهغو
کتابونو څخه عوارف المعارف
اللمع رسالة القشیریه، فتوحات
مکی فصوص او قوت القلوب او
انسان الکامل او احیأ العلوم
او المقصد السنی مشهور
کتابونه دی په دې کتابونو
کښې صوفیان خلکو ته دا توصیه
کوی چه دخپل وجود روحانی

خوا د ښوا وجګو اخلاقو په ګاڼه ښکلی کړی او د شهوانو او نفسی خواهشاتو څخه ډډه وکړی او په هر کار کښې د صبر او حوصلې څخه کار واخلی او صدق او قناعت خپل خوی وګرځوی د صوفیانو په اصطلاح کښې اخلاق د هغو جګو او عالی صفاتو نوم دی چه انسان د دغو عالی او جګو صفاتو په مرسته په خپل اجتماعی ژوند کښې د خپل ځان او خپلی ټولنی د نیکمرغۍ د پاره لوړ او ګټور خدمتونه کولی شی او په دې معنی بې د صوفیانو څخه نور خلک هم د صوفیانو سره په دغه مطلب کښې شریک دی او د هغو په عقیده هم لوړ اخلاق عبارت له همدغو شیانو څخه دی.

سر بېره په دغو منثورو کتابونو صوفیان منظوم کتابونه هم لری چه په هغو کښې د ابن فارض دیوان، د محی الدین ابن عربی، او د میرمن رابعې عدوی او د حلاج مناجات او نورو دیوانونه په دې لیاره کښې ډېر ښه او د قدر وړ دیوانونه دی؛ په دې لړ کښې له دوی وروسته نورو خلکو هم ډېر ښه ښه منظوم او منثور کتابونه لیکلی دی چه په دې لړ کښې د استاذ امام شیخ محمد عبده د حضرت جمال الدین افغانی پښتون فیلسوف شاګرد هغه کتابونه چه په دې لړ کښې ئې لیکلی دی ډېر مهم کتابونه دی.

د (٥) مخ پاته

مګر نن «سهار ناری» ته ویل کیږی. دغه ډول په پښتو کښې د «مېږتون» کلمه مرکبه ده د «مېږی» او «تون» څخه چه له آره د «مېږی د ځای» معنا لری مګر نن یې ښایسته ډېر پښتانه د «مېږی» په معنا استعمالوی. برسېره پر دې د «خټکی» او «کورکی» دواړو کلمو وروستنی سلیبل «کی» دی چه په وروستۍ کلمه کښې وروسته له تجزیې څخه د کلمې لومړۍ برخه «کور» خپله معنا نه بایلی مګر په لومړۍ کلمه کښې وروسته له تجزیې څخه لومړی سلیبل «خټ» بې معنا پاته کېږی.

د پورته ټولو خبرو څخه په لنډ ډول سره دا دوه نتیجې لاس ته راځی:

١- دانا لوجستانو دا ادعا چه د هر شی نوم طبیعی نوم دی او د هرې کلمې معنا د هغې د ظاهری بڼی څخه څرګندولای شو څه درسته ادعا نه وه.

٢- د دې خبرې څخه چه د «lytos» کلمې خپله اصلی معنا د لاسه ورکړې ده دا څرګندیږی چه د وی د کلماتو د بدلون عقیدې ته چه د مهال په واسطه پېښیږی راغلی وو او دا یې منلې وه چه کلمات د مهال په تېریدلو د لاسه ورکوی. او په بله معنا استعمالیږی. یا دا چه په ژبه او کلماتو کښې هم (لکه څنګه چه د پښتو د مېږتون - او د انګلیسی د BreakFust په کلمو کښې ولیدل شو) د تطور د قانون صدق یو مسلم او ښکاره حقیقت دی.

په دې برخه باندې وروسته تر دارویین او «دارونیسم» نه علمی خبری روانې شوې چه مونږ به په وروسته ګڼو کښې پرې وګړېږو.

دا وه د ژبې د مطالعې لرغونې بڼه چه په لنډ ډول سره مې وکښله امید دی چه نورې بڼې به یې په راتلونکو ګڼو کښې ولولیء

ښاغلی رشاد قندهاری

چه مېړونه وی

هالته کورونه وی

(احمدشاه) چه به هر لور کړه یر غالونه
لهنامه ئې گډیدې په غیلم ماتی
یوه ورځ ئې مخ راستون کانو میالو ته
هسی نه چه غلیم راشی تر شاغلی
لهزمریو که زهرې چیوی د سپیو
بویه جوړی کړواوې(۱) پخې قلاوی
سوبی نیوورته ر کېب او بری ملونه
له پرتمه ئې چاودل د دښتوزړونه
«مونږه تل پربل هیوادوړو ناتارونه
پر کورو باندی به بل کاندی اورونه
خو په سویو باندی آزمویی زورونه
دیوې تر بلی جگ وی د ېوالونه

نه به وی پرداگ پراته کلی کورونه
نه به زمونږه وی تر شاختلی زړونه»

یه دی ترڅ کښې (زرغونه) راغله جرگې ته
چه خبره په مطلب شوه وې زامنو!
پښتانه نه وړی پناه و دیوالو ته
دادختو څلی پر ېږدی و (اینکو) ته
ښتاسی توری تل تر تله وه سو رمخی
بویه زړه تر تلو لو یږی تېغ له موتو
وې چه «څه لره راغونډدی بیا مېړونه؟»
«پښتانه په قلانه ساتی ځانونه
پښتانه غلیم ته نه پر ېږدی ډاگونه
پښتنو زمروته نه ښایی غارونه
پر ملکو نو موږ غیږه نو بتونه
چه غلیم ته مو په یادورشی نو مونه

پر ښاغلو زویو مېنه ی بوری مه شه
چه مېړونه وی هالته وی کورونه»

ښاغلی بشیر

دغمو قافلی

څما رو ستر گو دې بخرې جوړې کړې
ستا د سر گو شونډو په ست محبوبې
د کېږو وریځو په سلا به دې وی
تر چه رقیب سره په ناز و خندل
خلکو دې زلفی په رنگ رنگ ستا بلی
ستا که د وصل مزل لری ښکاری
ځکه می او ښکو سلسلې جوړی کړې
د مینی مړاور می لمبې جوړې کړې
عشق می هډو کونه لیندی جوړې کړې
زما ماشوم زړگی ناري جوړې کړې
ما تری د مینی پلواښی جوړی کړې
ماهم د صبر راحلی جوړې کړې

(۱) اوې = ۷

کافی دی دومره اقتدار دیء شمعی چه له پتنگ نه دی ایرې جوړې کړې
نکهت د گلو تر بلبلو گرزی څکه گلزار کښی می سورې جوړې کړې
غمازه ستا نو په کښی څه گټه ده؟ چه دی په مینه کښی کیسې جوړې کړې
زړه د زاهد ور ته تخنیږی ساقی! ستا صراحی چه غړ، غړې جوړې کړې
عرض می په خپله در ته کړمه اشنا رویبار در تلو کښی فتنی جوړې کړې

«بشیر» د مینې تجارت شروع کړ
ستا له غموئی قافلې جوړې کړې

ښاغلی ممنون

دامید

نن که چپه خوله او په سکوت کښی ئی
یا افسرده هیله په کالبوت کښی ئی
نن دې د آرزو دنیا که ورانه ده
هیله خاطره که دې پریشانه ده
نن که دې سیلۍ خندانه نه پریږدی
تا دهست و بود دنیا ته نه پریږدی
نن که ستا په ضد مظاهری کیږی
ستا په مقابل ورانی ناري کیږی
دې باندی بوه شه اطمینان لره
زړه کښی دې ژوندی دغه ارمان لره
نن وی که سبا د زمانې نسیم
کړی همنوائی ستا ددی پاك تصمیم
بیا به د سکوت نه ابتکار شی ولاړ
بیا به د ارزو نه انتظار شی ولاړ
بیا به خوله کړی وازه قهقهې سره
غاړه او غړۍ به شی اسری سره
ستا آرزو یاداده د فطرت آرزو
ده د زمانی د حرکت آرزو

غوټۍ

ته

خونی

• اشنا بیادډیره قهره سوراوشین شو .

مادخپل پخوانی طبیعت پهمقتضی وپوښتهچهولیدومری قهردرغی اشنا !

ده وویل: «هغه چهیوانسان مرکری نوخونی بلل کیږی اودخونی بللو سره سم دقصاص حکم پرېږشی مگر داچه دانسان اصلی جوهر یعنی استعداد وژنی- دیډول انسانانوته خوك نه خونی وایی اونه چاته دقصاص فکر پیدا کیږی» مافکروکړ چهداشنا سره بیا پیچلی فکرونه پیدا شول نو ژړهی ورته پهنرمه ژبه وویل:«اشنا! هغه چه استعداد وژنی داستعداد خاوند نهوی خوداچه ژوند لهمنځهوری ژوندی وی .

پههمدی وخت کښی اشنالږ شانی مسکیشو اووئیویل: «گوره گرانه ! نه لږ غوندی سادهپهخیال راغلی؛ ځکه استعداد هر وخت استعدادونه وژلیدی تا چیری بی استعداده مادهلیدلیده چهاستعداد لهمنځه یوسی ؟

دمثال پهډول اوبه زورور شی دی اواورهم، خوځرنگه چهدا دوه استعدادونه سره مخشی نوبوله منځه ولاړشی دامنی کهنه !» .

مافکروکړ چهاشنادیرفلسفیسړیدی اودخبری نهخبرهپیدا کوی نوځکهخهشانی نورهم نرم شوم او پهسره سینهمی ورتهوویل :«وروره تهدیرخیرنی خوزه دومری درته وایم چهلیونیهمسړی وژنی کهنه؟ او کهئیوژنی نوتهدسدخاوندته پهاستعداد قابل ئی کهلیونی ته؟!» .

اشنابیا پهقهرشو اوپه ډیرتند آوازئی رانهوویل : «وه ساده! نه گوندی دا تو او هغو انسانانو تهچه استعدادته پهسپکه ستر که گوری پهلیونیوقابل ئی سره له دی چه داتول لیونیدی» .

مافکروکړ چهدی نورهم پهقاریږی نودده دطبع دپاره میورتهوویل :«اشنا کهته قدرت پیدا کړی نوخه کوی ؟» .

اشنا : «زه هغه نه وژنم چهژوندیوژنی بلکههغهوژنم چهاستعداد وژنی یا داچه زهغه خونی نه بولم چهژوندی وژنی بلکههغه خونیبولم چهاستعداد لهمنځه وری» .

ماچه دسړی قهرنه کتل اوپه هرساعت میدډیروالی تصور کاوه ډیر وارخطا شوم او گرارمی پهزړه کښی لهځان سرهوویل:«دژوندی وژل اوداستعداد لهمنځه وړل دواړه یورنگه گناوی دی کهخوك دانصاف دعوه کوی باید دژوندیو داستعداد خنه کار واخستل شی اواستعدادونه پهکار واچولشی نهداچه ژوندی یااستعدادونه محوه او نابودشی» اشناچه زمادومری زهیرحال ولید ژړئی پرزیره لاس تیرکړ اوولاړ شو خو وروسته لهخوقدمه اخستلوئی وویل : بیابهسره گورو . «ژواك»

ښاغلی خادم

دبحراباد سمڅی

کامه دننګرهار دولایت اخرنی حکومت دی چه دپښتونستان دآزادسرحد سره لګیلدلی دی.

دکامی نه لمر پر بوا ته ته دبهسودو او کامی په منځکښی دکونړسیند تېرشوی دی. دبهسودو برسرته قاسم آبادوایی بهسود دکابل دسیند په شمالی غاړه دیوی علاقی نوم دی چه وریجې ئی په افغانستان کښې شهرت لری.

د بهسود وپورته خواته یوه وړه کی ءغونډه کی ءده چه د دېنه سړی بری خواته واوړی، دغلته دکابل دسیند په غاړه څه ودانه ځمکه اوڅو کلی دی، دغو ته بحرابادوائی دبحراباد نه چه سړی نورهم پورته ولاړ شی نودرونټی ته وځی.

زمونږ مدعا دبحراباد په سمڅو کښی ده. ددې مضمون لوستنونکی به اکثره ددرونټی دپول نه ښکته دکابل اوپېښور په سرك جلال آباد ته تللی وی. ددرونټی له حد. د یومیل په اندازه کوزدسره رودپه خوړیو پول جوړ شوی دی، چه سور پول یی بولی. دغلته دپله په حدچه سړی دشمال خواته دکابل سیند پوری غاړی ته ګوری، نودسیند په کمر کښې تورې تورې سمڅی معلومېږی سمڅی خوډېرځایونه وی. اودومره ورته خلك نه ملتفت کېږی. په دې لاره زه ډېرتېر شوی یم، او دبحراباد دغوسمڅوته می کتلی او سودامی ورته پیدا شوېده چه آخر داسمڅی په دغومره منظم او مربوط صورت چه له ورایه ښکاری. دا به څه وی اودکوم وخت دانسانانو په لاس به جوړی شوی وی. اوداجوړوونکی به څوك وو؟ اوداسمڅی به دڅه مدعا دپاره جوړې شوی وی؟

دابه ماسره تل سوداوه. اوشوق می درلودچه کوم وخت ورشم اوو ګورم چه کیفیت څه شی دی. سږ کال دعقرب په اوائلو کښی زما یوملګری و ویل زما کاردی بحراباد ته ځم د هغه سره ماهم ځان ملګری کړ، اوله جلال آباده بحراباد ته ولاړو. دجلال آباد له ښاره به د قند ودفابریکی دمخامخ جالې په لار بحراباد ته دوه کروه مزل وی. په بحراباد کښی یوه شېبه کښېناستو په دوه بجې له بحراباده دکابل دسیند په امتداد دنمر پر بوا ته ته دبحراباد دسمڅودسیل او کتلودپاره روان شو. زما ملګری هم دلرغونو آثارودکتلو شوقی ؤ. هغه ویل مادغه ځای لیدلی دی، ده ویل هلته یوښار او یو بازار دی. اودغه ځای دکتلووړدی. پورته دسیند په غاړه تلودډېرو لرغونو ویالو آثار معلومېدل چه سیند ورنه خورا ډېر ښکته شوی ؤ او دغه ویالی پورته پاته شوی. اوورکې شوی وی. ځای پر ځای سمڅی مخې ته راتلې. زما ملګری به ویل مونږ چه ورځو هغه داځای نه دی، اولا به پورته تلو په څلورو بجو دسمڅو ځای ته ورغلو.

دسیند په غاړه شګلن کمر کښې دسیند دا و بو د جریان څخه تقریبا ۲۰ متره جګ سمڅی ایستل شوی دی. کمر د غره حیثیت لری. په اصل کښې خوشګه ده مګر د زمانی په تېریدو یی د سیمټو صورت غوره کړی دی. دا کمر چه سیند په تدریج سره وهلی او کښېنولی دی. نیغ لکه دیو ډېر لوړ دېوال غوندی سم ولاړ دی. په نیخ کښې یی سیند بهېږی. دبیرون څخه د تپې او غره ډول لری. مونږ چه ورته راغلو، نو یوه دروازه غوندې لیاره مو پیدا کړه او ورننوتو. دالیار د تونل په شکل مخ په وړاندی تللی وه. وړاندې لاړو، او دا تونل په یو بل لوی تونل ورګډ شو. دا بل تونل د سیند دغاړی په امتداد شرقا او غربا ایستل شوی ؤ. په دغه تونل کښې پورته روان وو تر ډېره حده پوری لاره معلومېده، ځکه چه دسیند له ډډی ورته کړکیء ایستل شوی وی. او په هغو کښې کافی رڼا راتله مونږ دغه تونل تعقیب کړو. یو داسی ځای ته ورغلو چه نور وړاندی درڼا څرک نه لګیده. څه لږ وړاندی لاړو. خو وېرېدو. مونږ ویل چه کوم حیوان یا مار، لړم راباندی پېښ نشی. خلکو ویل دا تور غار هیچا نه دی معلوم کړی چه تر کومه او چیرته تللی دی. ځکه وائی چه لالټین او چراغ هم پکښې مری.

کوم وخت چه بیرته راوګرځیدو نو د سیند د خوا د کړکیو په تلاش کښې شو. دا کړکیء په لږه لږه فاصله کښې جوړی شوی وی د تونل نه د کړکیء خواته دیو دروازې غوندی ځای نه تېر شوم. دننه ګورم چه یوه نهایت ښکلی هندسی کوټه موجوده ده دا کوټه په مستطیل شکل سره د سیند خواته تللی وه. په پورته سر کښې یی ښیء ډډې ته یوه بله دروازه ښکارېده چه پکښې یوه دوه متره په دوه متره کښې پسخانه وه. پخپله کوټه چه ما اندازه کړه اوه متره په اوږدوالی او څلور متره په عرض وه. جګوالی به یی تقریبا دری نیم متره ؤ چه په ګنبذی صورت تیاره شوی وه د کوټی او پسخانی دواړو څخه دسیند ډډې ته پنځوس سانتی په او یا سانتی کښې کړکیء پرېښودل شوې وې.

په دغه شان سره چه ما حساب کړې، له یوه سره تر بله سره پورې پنځه کوټې روغې ولاړې وې. نوره یوه برخه سیندوړې وه.

زما ملګری ویل راځه چه ناوخته دی. او اصل کښې دسیل ځای لابل دی. مونږ بېرته ښکته دسیند غاړه ونیوه. ښایسته په لږه فاصله کښې یوه دروازه غوندی غار ښکاره شو. دا غار د سیند له سطحی څخه تقریبا ۲۰ متره جګ ؤ. پاس وختو چه ورننوتو. ګورو چه په نیم دائره شکل سره یوه خالی ګاه جوړه شوېده. خالی ګاه د سرک په صورت ده. په منځ کښې لویه ستن غوندی پرېښودل شوېده او دواړه خواه د سیند له پلوه درڼا اورا ننوتو دروازې لری. په دغه نیم دائره وی شکل تونل کښې چه ما شمار لی په مرتب صورت سره لس د کانچی یا صومعی موجودې وې. دهرې صومعی ګنجائش دومره ؤ چه یو سړی پکښې څملا سستی

او کښېناستی شو ځای پر ځای دچراغونو دا ېښو د و تا خچی معلومېدی . سړی پوهېده چه په دې تاخچو کښی د ېره مو ده چراغونه لګېدلی دی. خو دا نشوه معلومه چه دا ځای د څه مطلب دپاره ؤ ، زه ګمان کوم چه دا عبادتخانه وه، او داوړی وړی صومعې دیو یو نفر دچلې ځای ؤ. مګر عوا مو ویل چه دا بازار دی، او دایی دکانونه دی .

دقاسم اباد نه دد رونتی او شمشه پوره پورې په یوه یوه کرو فاصله کښی دغونډیو په سر بر جونه جوړ شوی ښکاری چه اوس وران پرا ته دی، مونږ یو وران برج ته وروختو ، اولاره مو یی پیدا کړه . تر یو حده ورننوتو. نوره لاره بنده وه. زما ملګری مفتی عزیزالله هم بېذوقه سړی نه ؤ.

هغه ویل ګوره دا برجونه ددی دپاره جوړ شوی دی چه له دې ځایه د دښمن لارو څارل شی . دا سمڅې عسکری استحکمات معلومېږی. دسیند نه په جنوبی غاړه د پټو په منځکښی لوئی لوئی غونډۍ د کوم یو زوړ ښار علامې دی داسی برېښی چه دغه ښار والاؤ دشمال دخوا. د کوم دښمن قام څخه وېره درلوده .

او ځای پر ځای یی استحکامات جوړ کړی دی. چه دښمن د سیند دهغه ډډی څخه منع کړی چه په سیندرا پورې نه وځی. ګویا خپل دفاعی سنګر یی د سیند په بله مخامخ ډډه جوړ کړی دی. دا خبره بېځایه هم نه ده . ځکه دغلته دسیند په غاړه د ننګرهار - یا - «ناکی» په نامه یو ښار د تاریخ په اسفارو کښې هم کتل کېږی .

په هر صورت د بحر اباد سمڅې دوطن دوستو ځوانانو دپاره د کتلو او تحقیق وړ زمینه تهیه کوی . که دغه خاوری وکتل شی او وکتل شی، ممکن چه له دغه ځایه مهم تاریخی انکشاف وشی. دا دسیند غاړه ده. او دقبل التاریخ انسانانو دسیندونو غاړی او دغسی محفوظ او ماموره ځایونه دځان دپاره خوښول. چه دوحشی حیوانانو او دښمنانو څخه پکښی په امن وی . دلته هم سمڅی دسیند له خوا کاملا په امن دی. او دبیرون له خوا فقط یوه لاره ورته پرېښودل شوېده چه په ښه شان یی دفاع کېدای شی او دجنګ په وخت کښی ورته او به نزدی او ددوی په قبضه کښی دی ،

والله اعلم با لصواب

زه تر خپل پلار دخپل استاذ عزت ځکه ډیر کوم چه زما پلار زما دفانی حیات سبب شوی دی او استاذ دباقی او جاویدانی حیات سبب . (ذولقرنین)

* * *

مرګ ته په وړه سترګه و ګوری ځکه دمرګ تریخوالی دمرګ په ویره کښی دی .
(د یمقراطیس)

* * *

دعقل صفائی په ادب سره ، غضب لیری کول په حلم سره او د حرص قطع کول په قناعت سره راځی .
(دیقراطیس)

د ښاغلی معتمد انتخاب

د ښاغلی ح . حبیب ترجمه :

دتاجکستان دساینس اکاډمی

دتاجکستان دساینس اکاډمی دروسی دډیرو نووا کاډمیوڅخه ده ، چه فقط شپږ کاله پخوا تاسیس شوې ده. دا اکاډمی د خپلو تولو متعلقاتو سره دعلمي تحقیقاتو (۲٤) موسسې لری. او د پوهانو شمېر ئی هم اوه سوو (۷۰۰) کسو ته رسیږی چه له ذکر شوی شمیر نه (۱۳۰) کسه دساینس د دکتورۍ او ماسترۍ علمی درجې لری .

په لاندنیو کرښو کښی به مونږ د نوموړی اکاډمۍ دیوڅو علمی موسساتو یادونه وکړو.

۱- دتاجکستان دبیالوژی اوزولوژی پوهان

دستالین آباد (اینی) کوڅه دتاجکستان د بوټنی (علم النباتات) دموسسی پته ده که څه هم دا موسسه یو شمیر زیات غړی لری خو قاعدتاً دموسسی په مرکز کښی یواځی یو څو تنه پوهان موندل کیږی او نور غړی ئی په بوټنی مراکز واو باغونو کښی په تحقیقاتو بوخت وی په دغه موسسه پوری دری بوټنی باغونه تړلی دی چه هغه دستالین آباد ، لینن گراد ، او خوراگ بڼونه دی او دخوراگ بڼ د یوه غره پرسر پروت دی دا ځای تقریباً دبحر له سطحی نه ۲٦۰۰ متره لوړوالی لری بر سیره پر دغو نوموړ و باغونو دا موسسه دبیالوژۍ دتحقیقاتو نور ډیر



ښاغلی حبیب دمجلی فخری نامه نگار

مرکزونه او سټیشنونه هم لری چه دراز راز نباتاتو په شاوخوا کښې هغه ځیرې او دقیقی کتنی او تجربې چه هر وخت د دغو پوهانو له خوا په تاکل شوو مراکزو کښی شوی دی او دایی ممکنه کړیده چه هغه نباتات کوم چه پخوا به په یوه خاصه او منحصره منطقه کښی شنه کیدل اوس په ډیرو نورو

ځایونو کښی هم وده وکړی او شنه شی دغو پوهانو بر سیره پر دغو فعالیتونو د کتابونو په لیکلو هم لاس پوری کړی دی نو ځکه یوه سلسله کتابونه ئی هم په دغه باب کښی لیکلی دی لکه د تاجکستان د نباتاتو تر عنوان لاندی (چه لمړی ټوک ئی چاپ شوی او دوهم ټوک ئی دچاپ لپاره آماده او تیار دی) دتاجکستان دځنگلونو لارښونه او دچانیپر ځنگلونو په نامه کتاب دموسسی غړیو دجیوبو تنیکل دنقشو په جوړولو کښی هم برخه اخیستې ده یو بل دبیولوژی سټیشن هم چه دپامیر دبیولوژی دمرکز په نامه یادیږی او دبحر د سطحی نه ۳۷٦۰ متره لوړوالی لری نوی

جوړ شوی دی او په خپله
ورسپارل شوی منطقه کښی
هر رازونې چه د روزنی امکان
ولری لکه د څیړی او
د چنارونې او نور روزی همدا
رنګه ددی مرکز فعالیتونه په
ورپوری سیمه کښی د اورشو
ګانو په ډیر بدلو او د کرهنی
په تخنیك کښی هم بی اثره نه دی
یا ته شوی داؤ د بیلوژی د پوهانو
کارونه چه د ترکودو (نباتاتو)
او شنېلیو په برخه کښې ئې
کړی دی او د هغوی په شرایطو
کښی ئې ډیر بدلون راوستی دی.
د څارو بو په روزلو کښی
د زولوژی د پوهانو ربړونه
د یادونی وړ دی ددی موسسی
غړی د هغو نایابو او کمیابو
حیواناتو په روزلو چه یا به په
تاجکستان کښی بیخی نه پیدا
کیدل او یا که به موندل
کیدل خو په هره آب و هوا او
منطقه کښی ئې استوګنه
نشوای کولای بریالی شوی دی
د مثال په توګه په ۱۹۴۹ کال
کښی دا پوهان د تاجکستان په
مختلفو ځنګلونو کښی پس له
ډیرو ربړونو د توتاریا (توتاریا

د شمالی امریکی حیوان دی
چه د پوستکی له نقطی نظره
اهمیت لری) پنځوس دانې
وموندلې او وئی روزل تر څو
چه دا حیوانات په ډیره لږه موده
کښی د مختلفو ځایونو په آب
او هوا هم بلد شول او اوس د دغو
حیواناتو په زرو دانی د خلیجونو
او سیندونو پر څنډو لامبی همدا
رنګه هر ځای چه د بخارا ښکلې
هوسۍ یکښې موندلې کیدی
ډیر محدود ؤ، هغه ؤ چه د دغی
موسسی غړی هلته ولاړ او د دغو
هوسیو یو شمیر ئې راووړ او په
څو مختلفو منطقو کښی ئې
وروزه تر څو چه اوس داد ښکلا
نمونی په ډیرو ځایونو کښی
ژوند کولای شی کله چه په
تاجکستان کښی سیر دریا ته
د برښنا د سټیشن لپاره بند واچول شو
نو دې بند یوه بحیره جوړه
کړه دا نوی بند تقریباً څو زره
میلونه کیوبك متره او به
ساتلای شی او د تاجکو خلکو
له خوا د تاجك په بحیره مسمی
شو یده زولو جستانو دا فیصله
وکړه چه په دغه بحیره کښی
کبان وروزی هغه ؤ چه دوی

۲۵ ډوله کبان په دغه بحیره
کښی د روزلو لپاره واچول
تر څو چه د دوی د تربیی صورت
د دغو پوهانو په نظر به او زیار
پای ته ورسید نو ځکه چه په دغه
ځای کښی بخوا بیخی کبان
موجود نه ؤ اوس په زرګونو
کبان د بحیری پر څنډو موندل
کیږی.

۲- آسمان او ځمکه

د ځمکی په باره کښی مطالعات
دا کاډمۍ د څو موسسو له خوا
روان دی مثلاً د جیولوجی
موسسه په دغه کار بوخته ده او
ضروری نقشی ئی جوړې کړی
تاجکستان ډیرې زلزلې لری
د (سسمولوژی هغه علم چه د زلزلی
متعلق خبری کو) موسسه
د ځمکی دلاندی د حرکتونو په
برخه کښې څیړنې کوی
دا موسسه په مختلفو ځایونو
کښی د مطالعی (۹) مرکزونه
لری چه په اتوماتیکی او دایمی
ډول سره د ځمکی حرکتونه
ثبتوی بر سیره پر دغو سټیشنونو
په ستالین آباد کښې هم نه (۹) نور
مرکزونه شته او دغه وظیفه لری

هغه نور پوهان چه په فلکی مطالعاتو بوخت دی هم په خپلو کارونو کښې د بر بریالی دی دستالین آباد رصد خانه چه پنځه ویشت کاله پخوا درو سیی نامتو ستوری پوهاند (اودوبرو ولسکی) له خوائی بنسټ ایښودل شوی ؤ اوس په ډیر صحیح او اساسی آلاتو سره مجهزه ده دستالین آباد آسمان اوشپې هم دفلکی ځیرو نو لپاره ډیر مساعد دی چه دا هم په دغه کار کښې دبریا لیتوب یو ښه عامل بلل کیدای شی. د ۱۹۵۵ع. کال دجون په ۱۲ نیټه (باخاریف) یو بل نا متو ستوری پوهاند لکی لرونکی ستوری کشف کړ چه دستیلا په اتلس کښې (د ۱۹۵۵ کال د باخاریف مار فالین. او کریکن (لکی لرونکی ستوری) په نامه ثبت شو.

دا دوه وروستنی نومونه چه ذکر شوی دی دهغو دوو امریکائی ستورو پوهانو نومونه دی چه دهارورډ په رصدخانه کښې ئی مشغولا در لوده او لږ څه وروسته ئی ترلومړنی روسی ستوری پوهاند د دغه ستوری کشف کړی ده دتاجکستان نور ستورو پوهاندو نور غیر ثابت ستوری هم کشف کړی دی.

د تاجکستان رصد خانه دستورو د کتو لپاره راد بو تلسکوپ لری خوددی رصد خانی تخصص د لکی لرونکو ستورو او جوی علاماتو په برخه کښې ده. په ۱۹۳۸ع کال کښې په دغه رصد خانه کښې یوه چالاکه ځاروور کو نکی آله نصب شوه چه په آسمان کښې یو ستوری شا نته جسم که هر څومره چالاکه هم وی او حرکت و کړی د دغه آلی په مرسته تعقیب پیدای شی. سږ کال یوه بله عصری ځارندویه آله په دی رصد خانه کښې ایښول شوی ده چه بابا جالوف تاجکی ستوری پوهاند کار و رځنې اخلی اوس د رصدخانی فعالیتونو دومره پرمخ تګ کړی دی چه د (لکی لرونکو ستورو «بولیتن» په نامه مجله چه پخوا به دسا ینس د اکاډمی له خوا له ماسکونه خپریده اوس دستالین آباد نه خپریږی.

۳ دتاجکستان دژبی او تاریخ پوهاند

هغه ډیری مرستی چه فارسی ادب دنړی کلتور نه رسولی دی البته دهر چا به په زړه وی ځکه نو تاجکی ژب پوهاند دعی نکتی ته ډیره توجه کوی.

درودکی په باره کښې دری جلده کتابونه تهیه شویدی چه ژر به چاپ شی همدارنګه دفیلالوژی موسسه دشاهنامی دولسونو کونونه چه دفردوسی له خوا لیکل شوی ده لمړی تو ګ ئی چاپ کړی دی یو بل دلغاتو کتاب چه دفردوسی دلسان دکهنری باله شی همنژدی دی چه چاپ شی.

دروسی دادبیاتو په لړ کښې د تاجکی ادبیاتو د تاریخ دوه تو ګه چه په هغه کښې له ۱۹۱۸ع تر ۱۹۵۶ع کال پوری دادب د تاریخ په شاو خوا کښې ځیرنی شوی دی نشر شویدی دادبیاتو څانګه هم دیو ډیر په زړه پوری کتاب په نشرولو بوخته ده چه هغه د (یانکوب) دژبی په باره چه دپخوانیو سغد یانو دژبی نمونه کیدای شی کتور معلومات ور کولای شی. څو وخته پخوا په یانکوب کښې چه یوه غرنی

(پاته په ۲۰ مخ)

په تیرو ګڼو کښې د دې افسانې

دښاغلي منفلوطي اثر

مترجم ښاغلي تهذیب

اوښکې . **لنډیز**

بېوزلی ګونډی وروسته دخپل ورور د مرستې نه زوی وروزه او هغه رسام شو خو ورورئې څه وخت وروسته ور کېږی هلك (د ګونډې زوی) امریکا ته د رسامۍ د مسابقې د پاره ځی هلته ښه جایزه اخلی - د مور سره مادی مرسته کوی او د ماما پته اخلی، دی هم د زنګیانو په لاس ورځی او د انتقام په نامه یو زندان ته لوېږی، دی هلته لمر نه شی لیدلای وروسته له هغه چه ژوند ئې مرګ ته نژدی کېږی د یوی نجلۍ له خوا د بند څخه خلاصیږی او دی پر هغه نجلۍ مین کېږی هم نجلۍ غواړی چه هلك ولاړ شی مګر هلك یعنی رسام وائی ستا بیلتون ما ته مرګ ښکاری - زه نه ځم بالاخره نجلۍ مجبوره کېږی چه د رسام د خاطر د پاره د رسام سره و تښتی - د وی دواړه تښتی او وروسته له ډېر زحمت نه یوی آبادۍ ته رارسیږی .

شهیدان

ستړی او ستومان پردیسیان
آبادۍ ته نژدی د یوی ولی
غاړې ته ورسیدل او هلته د یوې
شیبې د می نیولو لپاره د یو بل تر
څنګ کښېنا ستل ، او د تیرو
کرغړنو او بدو ورځو خاطری ئې
یو بل ته ویلی .....

دا لمړۍ ناسته وه چه دوی
په خورا اطمینان د دی ښکلی
ولې په غاړه و کړه ! ځلمی
پیغلې ته سترګی ور واړولی
او وئی ویل: په دی وچه بیدیا
او وبروونکی صحرا کښې لوی
خدای دا ځای فقط د دی له پاره
دوام ور کړ چه یو وار د ژوندانه
هغه مسعود ده دوره کومه چه
د تقدیر پر لوحه ئی زمونږ
لپاره لیکلی ده ، او پر ښتیا
خوندئی هم د خدای تعالی
د جنتونو د نعمتو څخه کم ندی
په ستر ګو و وینو ، څو مو دا
د مصائبو توری ورځی د خاطراتو
له پاڼی نه بیخی محو شی !!
پیغلی د ده جملو ته ښه غوږ نیولی وو ،
بیائی سر پورته کړ او وئی ویل:
آیا د ژوندانه صحنه چا ته
هم د سعادت مینه یا د نیك مرغۍ
وطن ګرزیدلی دی ؟ کله هم
د دی زړی نړۍ له هومرو زامنو
څخه کوم یو مسعود او سیدلی
دی؟ کله چه زمونږ هم چیرته
کومه بختوره ورځ په نصیب
شی نو هغسی سعادت به وی لکه
چه د نړۍ پخوانو زامنو تیر
کړی او لیدلی دی ....
بیا هم که د نړۍ پر مخ د چا
له پاره سعادت مقدر شوی وی
نو هغه دا دی چه سړی ځان
بدبخته او د سعادت څخه بی
نصیبه و ګڼی !! څو خپل پنځه
ورځی عمر په آرام زړه او
مستریحه ساه ، چه له دروغجنو
آرزو ګانو او نامیده کوونکو
خواهشاتو څخه هوسا او خالی

وی، تیر کړی، او په آخر کښې مړه او خاوری شوی امیدونه له ځانه سره دفنا لورته یو نسی !!! .....

د(۱۸ مخ پاته)

منطقه ده یو څو کلی وپیژندل شو چه دد وي قبیلوی ژبه د تیرو زمانو د تاجکانو ژبی ته ورته وه نو ځکه د ژبی دوو پوهانو په دغو تحقیقاتو لاس پورې کړ او ښه نتایج ئی لاس ته راوړی دی او ډیر ژر به دا کتاب سره دیوی د کشنرۍ چه دیانکوب د ژبی د پوهیدلو لپاره لیکل شوی دی خپره شی او په دی ترتیب به د سغدیانو په ژبه باندی چه تر اوسه په تیاره کښی وه ښه رڼا واچوی.

د تاریخ موسسه چه د تاجکستان د پیاوړی مورخ پروفیسر الکسندر سیمیونوف تر ښونې لاندی کار کوی هم ښه پر مخ تګ کړی دی موسسی په ډیرو مختلفو مناطقو کښی تاریخی حفریاتو او څیړنو ته دوام ور کړی دی نو ځکه اوس دوی هغه ځایونه او آثار موندلی دی کوم چه دنیو او لیتیک د دوری خلک پکښی اوسیده بر سیره پر دی اوس د سغدیانو د قدیمی کلی په شاوخوا کښی هم تتبع روانه ده او یو څو آثار ئی هم پیدا شوی دی.

دا اکاډمی بر سیره پر یادو شو یو موسسو نوری موسسی هم لکه د کیمیا څانګه د خاورو د مطالعاتو څانګه د اقتصاد څانګه او فلسفی څانګه هم لری چه غړی ئی په خپلو تحقیقاتو کښی ډیر بریالی دی او ښې نتیجی ئی لاس ته راوستلی دی.

دا کاډمۍ د پوهانو شمیر روځ په روځ زیاتیږی تر دی چه د اکاډمی اوسنی عمارت ئی کفایت نه کوی او په نظر کښی ده چه یوه ډیره ستره مانۍ ورته جوړه شی چه د تاجکن په موجوده مانیو کښی ساری ونه لری. (پای)

ځوان ورته وویل: ولی! زمونږ او سعادت په منځ کښی نور څه دی؟ سعادت له مونږ څخه فقط دومره فاصله لری چه له دی ولې څخه پوری وزو او دالږه نوره لار هم ووهو بیا به نو هلته د خدای هغه اولنی کورته چه زمونږ په لار کښی دی ور شو.

خپل سرونه ئی د مقدسی قربانګاه په غولی کښیښودل، او وروسته د دوو بختورو ملګرو بحیث لاس تر غاړه رابهر شول!!

پیغلی د لږ څه تامل څخه وروسته سر پورته کړ، رڼی اوښکی ئی پر بارخو ګانو روی روی راښکته کیدلی!!

ځوان وویل: باداری! ولی ژاړې؟

پیغلی ورته وویل: پیا ددې دی هغه ستا د خلاصون په شپه کله چه دې زه هم له ځان سره تیښتې نه ایسار ولم مادر ته وویل: ډاریږم چه را باندی ګران نشي!!.

ځوان ورته وویل: هو پیا دمی دی، پیغلی واوسپلل او په غریو جن زغ یی وویل: هغه چه ترې ډاریدلم را پیښه شوه؟ بیا ئی په سختو سلګیو کښې داناره وکړه: وامورې دامی څه وکړه؟...

او پړمخې پر ځمکه ولګید له ـ
ځوان په تلوار ور دمخه شو
له مټه ئې ونیوله او راپائې څوله
ګوری چه ټول بدن ئې په خورا
شدت ریږدی، د ده ګمان
داشو چه په سخته سړه تبه اخته
شویده، نو ئې ژر اطرافو ته
منډه کړه لږ څه خاشی ئې
راټولی کړی، او ددې لپاره
چه اورولګوی دهغه یوه دهاتی
کور خواته چه له لیری ښکاریده
ور روان شو، کورته ورسید
او ددروازی پخوله کښی ئې
یو سپین ږیری کاهن
چه دعزت آثار ئې په څیره
کښې ځلیدل، ولید، سلام ئې
ور واچاوه او د کلیوالو
پشان ئې روغ بړور سره وکړ،
سپین ږیری په ورین تندی
پوښتنه وکړه زویه! خیر دی؟
ځوان ورته وویل:
هو خیر دی، خو هلته دولې پر
غاړه یوه پردیسه پیغله سړه تبه
پر کوی.
آیا دلته به یوه سکروته
ومومم چه هغې ته لږ څه اوربل
کړم چه پری توده شی؟
سپین ږیری ژر یوه سکروته
راوړه، ځوان دواړه لاسه دده
مخې ته غزولی و، سپین ږیری
د ځوان ستر ګو ته کتل.
بیا ئې وویل:
بی غمه اوسه!
لوی خدای ستا او ستا
دملګری لپاره جوړ تیا او سلامتی
لیکلې ده.
ورځه اودادی زه هم پسې
در غلم.
ځوان په وچه منډه دولې
غاړی ته ورسید، د پیغلی له
آرامۍ او کرارۍ نه چه پخورا
راحت په یوه اړخ پرته وه.
سخت وار خطا شو، ګوری
چه نه له یخنۍ شکایت کوی
او نه له درده ژاړی!!
ری ځوان په داسې حال کښی
چه اوراد او دعا ګانی ئې په
خوله جاری وی ور مخامخ
شو او ورته ئې وویل: ګوندی
پخپل کور او کهول پسې خپه
ئې ځکه هغوی د ډیر و شپو
ورځو مزلونو، ها خوا ته پاته شول.
پیغله: به، یه، هیڅ می کور
نه یادیږی...
خو اجازه وکړه چه کښینم
او خپل داستان چه اوس ئې
په ویلو مجبوره یم. درته بیان
کړم!..
ځوان د پیغلی د تاثر ته هک پک
پاته وو، سو که د پیغلی نر څنګه
کښیناست او دې دخپل ژوند
ډرامه داسې شروع کړه:
ځوانه! زه هم ستا غوندی پدی
سیمه کښې پردیسه او
جلاوطنه یم. ددې ملک له خلکو
بیله خپله ځانه او یوه زاړه قبره
چه اوس ئې د ډیری زمانی
د تیریدلو په سبب پوره اثر هم
ندی پاته، نه پیژنم!!.
شل کاله پخوا زه له یوی
صحرایی موره څخه د یوه سپین
نژادی سړې پکور کښې
پیدا شوم داسړی هم ستا پشان پدې
سیمو کښې پردیس و!!
کومه ورځ چه ددې قبیلې له
څنګه تېریده، ناڅاپه ئې زما په
مور چه هغه هم نوی پیغله وه
ستر ګی ولګیدی، دواړو یوه
ګړۍ، ځیر، ځیر، د یو بل
مخونو ته وکتل، څو دواړه
سره جوړ شوه او د قبیلې
له خلکو ئې تېښته وکړه!!
لدی پلنو او وچو صحرا وو
څخه ها خوا واوښتل، هلته ئې
یو مختصر کور ګی جوړ کړ،
ښځه دده په دین ورو او ښتله،

ځووځته بعدئې زه وموندلم' !!

دهر کلونه مو خورا ځوز ژوند تیر کړ '...

مګر دقبیلې خلکو دا پیغور نه هیرا وه' او شپه ورځ ئې زمونږ پته غوښتله ' ځو یوه شپه چه تیاره ډیره شد بدوه. او مونږ دهری شپې په شان دیو بل ترڅنګه پخوازه خوب تللی وو' ناڅاپه هغه انتقام غوښتونکی دښمنان دآسمانی ټیږی په څیر را باندی ولویدل ' او مونږ درې واړه ئې ترلی او نغښتلی په پټو ستر ګو د خپلی قبیلی خوانه بوورو!! زه یه دغه وخت کښې دلسو کلو نجلی روم!!.

دقبیلی یه ډګر کښې ئې په ونا ورځ زما او زما د مور ترمخ زما پلار وو او زه ا هغه ګړی می داسی بد ډیزی لکه دا اوس ئې چه په ستر ګو ینم ! ...

زه او زما مور ئې بر ښو دو' خو مور مې د چیغ ګران میړه مړ ګی هو مره غمجنه شوه چه له خپګانه مرض ورو لوید' داهم سو که' سو که' د ګر ر خوانه اژدې کید له ! هغه ګړی چه زما ګرانه مور د ځنګدن په بستر کښې خوا پخوا او ښتله ، یو مسیحی کشیش دد ې پر بستر حاضر شو' مو ر می زه هم وروغوښتلم' او دهغه سپین زیری کشیش په مخکښې ئې را ته وو یل: ای زما لوری! زه خپلی مورد ګړاوونو او بدبختیو لپاره وزیږولم ' او بیاما همدا رنګه ته دنورو ورځو او ژر اندوشپو له پاره دنیا ته راوستلې!! نو ګرانې لورې! نه غواړم چه ته هم کوم بل انسان دداسې بدوور ځو له پاره نړی ته وسپارې' لورې! زما وصیت او وروستنی نصیحت له تا څخه دیوې لوئې فدا کارۍ تمنا لری!! هغه داچه : ته خپل ځان (عذراء) بی بی ته نذر کړې او دا نذر ترهغه پورې وساتې خو دی پاک روح په مونږ پسې راشی !!...

خوږه ملګریه! ما د خپلی موږ وصیت ته غاړه کیښو ده او هغه کشیش می پخپله وعده شاهد کړ...

پس لدې لنډو خبرو زما دمورمخ وبرینبد د خوشحالۍ علامې ئې په څیره کښې وځلیدی دوا ړی ستر ګی ئې په یوه حیرانوونکی کیفیت دآسمان پلور خلاصی کړې او دالنډه جمله ئې له خولې او چته شوه

دادیء' دادیء' ستا یه قدمونو پسی' ای ګرانه « رافائیله! » او روح ئې والووت' ...

ځوان ددی نامه یه اوریدلو بیقراره شو او ژر ئی یو ښتنه وکړه :

آیا ته دخپل پلار دوطن او خاندان نومونه پیژنی ؟ پیغلی ویل: هو' او دخپل پلار دوطن او خاندان نومونه ئی واخستل!!

دځوان تندی له خوشحالۍ وغوریدل او وئی ویل: ای لویه او مهربانه خدایه!

تا ته حمد او ثنا وایم! لدی چه زما هغه د کلونو ورکه دنی راپیدا کړه.

پیغله دده له وینانه په حیرت کښې
دو به شوه او ورته وئې ویل
کوم ورك ؟
ځوان ورته وویل: پیادی دی !
هغه د دیدن په لمړۍ شپه کله
چه زما او ستا اوښکی سره گډې
شوې، مادرته ویل: داز ما او
ستا یووالی او داسی یو ځای ای
تمثیلوی چه بیله مرگه په ل
شی نه بیلیږی! ؟...
پیغله: هو پیا د می د ی ،.
ځوان ورته وویل: گرانی
پیغلی! یوه گړۍ د مخه زما
او ستا یوازی د محبت او عشق
خپلوی و ه مگر اوس هم د محبت
خپلوی او هم د قرابت خپلوی ! !
ته نن هم زما محبوبه او هم زما
د ماما لورئې !! ...
پیغلی: په نیولی ږغ ورته وویل:
دلوی خدائی ستا ینه کوم چه
پدی یوازیتوب کښی ئې دیوه
مهربان ورور په هستۍ هستمنه کړم!
بیائې ټول ځان سخت ریږد
واخست او ورو، ورو، ئې مخ
او تندی بل رنگ کېدی ځوان
د حیرانۍ په دنیا کښې له ډاره
او چت و غور ځېد او په
زړه سونکی ږغ ئې ناری کړ:
های داڅه وینم !!! ..
پیغلی په نیمکښو ستر گو د ځوان
خوا ته کتل او ویل ئی:
مه وار خطا کیږه !
کښینه زما د داستان لاڅه
برخه پاته ده. هغه هم واوره !
گرانه وروره ! هغه گړۍ چه
ما د مور وصیت ومانه، او ځان
مې (العذراء) ته وباښه نو د دې
وعدې د پرځای کولو په لار کښی
په ډار او خوف اخته وم، ځکه
زه د خپل هوس او فطری، غریزی
تمایلاتو پر ضد چنگید لم، نو
مجبوره وم چه د ځان لپاره یوه
پناگاه او د مجبوریت په وخت
کښی کومه د قطعی خلاصون
لاره پیدا کړم، څو مې دا
وړوکی بوتل گی د خپل دینی
مسئولیت څخه د ځان د خلاصولو
بهتر ینه وسیله ولیدله، او دادی
او س چه د عشق او محبت له
زورورې قوې سره مخا مخ یم
او د ځان د خلاصون لپاره مې یو قوی
مد د گار لټاو، هغه
وړوکی بوتل ته مې پناه
وروړله او ځان مې خلاص کړ!!..
تادې لوی خدای وساتی !
دائی وویل او د خپلی مور غیږی ته
ځوان په سخته بیقراری
د دی داشارې لورته وکتل،
یو وړوکی تش بوتل ئی وموند
چه دې پخپل لاس ها خوا
غوړځولی و، !! .
په ډېره بیړه ئی واخت
او لاندې باندې ئی وکوت، بیله
څو څاڅکو ژیړو خطرناکو زهرو ئی
تو رڅه په بیخ کښې نه و !!! .
دا گړۍ وه چه ځوان د پیغلی
په ټول سر گذشت پوره وپوهید!...
د ځوان په وجود کښی سخت
انقلاب جور شوی و، تا به ویل
د زړه یوه ټوټه ئی جلا شوه او
کوزه په کلمو کښی ولویده، او
د عقل او شعور، بلکه ټولو
احساساتو مرغه ئی پاس په
ککرۍ کښی وزرونه ټکوهل
او د آسمان پلور والوت
د آسمان له لوری یوه سخته ټکه
راغله او د ده په جمجمه کښی
ولگیده. ....
او ږده گړۍ بی حس او بی
شعوره وچ کلك پرځای و درید
بیائی په خورا تلوار ستر گی
پرانیستلې، هغه شی چه تر هر
شی ډو مبی ئی د ده نظر کش کړ

دپیغلی سوړ وجود وو !!..
بیائی پرهغه سپین زیری کاهن
چه لږ څه طعام ئی ددوی د واړو
لپاره په لاس کښی را اخیستی
او دوی ته ئی په حیرت وهلو
ستر گو، رډ، رډ کتل. نظر واوید
ځوان په ډیر شتاب د کاهن
مخی ته ورخیز کړ او مخا مخ
ورته ودرید !

د سپین زیری دوو ستر گو
ته ئی داسی دغضب او انتقام نظر
وکړ کوم چه بیگناه تورن
ئی دتهمت کوونکی پر مخ اچوی
لکه سرسام خوله ئی په پرتو خلاصه
کړه اووئی ویل : ای سړیه !
هیڅ پدی نه پوهیږی؟ دی پیغلی
ولی ځان په زهرو وواژه ؟ له دی
چه دی خپل ژوند (العذراء) ته
بخښلی وای، او پدی لاره کښی
ئی عشق او محبت مخی ته او درید
نو ددین او زړه په منځ کښی
حیرانه شوه،

څو ئی دخلاصون لاره په
مرگ کښی ولیده نو ئی ځان
پخپل لاس هلاك کړ !!.

ای ددین چلوونکی داټول ستا
او ستا رنگو خلکو جرایم دی
چه په وار، وار، مو ددی زړی
نړۍ پر مخ کړی اولائی کوی !!.

په دی مولا اکتفا ونکړه
چه دخلکو ودونه او نکاح گانی
ستاسی دزړه او خوښی کار دی.
که وغواړیء تړلی دی او که
نغواړی شکیدلی؟ او که کله
څوك په ابدی تجربه هم محکوم
کړیء نو څوك مو مخه نشی
را گرزولی ؟

هغه ذات چه پیدائی کړو، او
ارواح گانی ئی زمونږ په تشو
کالبدونو کښی پوکړی، هغه
چا چه دانری زړونه زمونږ په
تټرونو کښی وځړول، او بیائی
په هغو کښی محبت ته پوره لاره
ور کړه.

هماغه ذات مامور کړی یو
چه ښه وایسو او محبت ولرو
بختور ژوندو کړو، او خوشحاله
واوسو ....

نو ستاسی ئی څه چه دانسان
اولوی خدای، د انسان او د
هغه دزړه په منځ کښی نیغ
درېږیء، او ځانونه حائلویء؟..

لوی خدای پخپلو لوړو
اسمانونو کښی دخپل جمال په
نورانی پردو کښی، زمونږ له
ستر گو او نورو حواسو څخه
الونیادی، مونږ ئی جمال په
راز، راز مصنوعاتو کښی چه
دده دقدرت علامی دی لټوو.

نو څنگه به ئی ښکلو مصنوعاتو
او ښایسته بدائعو ته دمحبت په
ستر گه نه گورو او له هغه سره
به عشق نلرو !؟.

که تاسی غواړیء چه مونږ
بیله عشقه ژوندو کړو او بی محبته
دنړۍ پر مخ ژوندی واوسو
نوراشیء، او دالیوال او ناقراره
زړونه زمونږ له سینو راوباسیء
او بهرئی و غور ځوی ؟! ځکه
مونږ ددی بیقرارو زړونو سره
بی عشقه ژوندون نشو منلای !
ای دمذهب پیشوایانو! ستاسی
په عقیده زمونږ پیدایښت یوازی
دامفهوم لری چه درحم له تیاری نه
دمعبد تیاری ته او د معبد له
تیاری نه : گور تیاری ته ورتیټ
شو؟ که په رښتیا د پیدا یښت
څخه همدا مطلب وی. نو نفرین
پدی ژوندانه او ارمان پدی
پیدا یښت ؟!..

مونږ دنړۍ پر مخ بیله محبته
بل سعادت نه پیژنو! او دسختۍ
او پریشانۍ په وخت کښی بی
دمحبت له غیږی بلی خوا ته د
هوسائی ځای نه لټوو، که
غواړیء چه له دی موندلی سعادته
مو درو گواښویء، نو اول مونږ ته

د کوم بل بختور توب لاره جوته کړیء !

داوړو کی او ښایسته مرغان چه یدی پراخه فضا کښی خپل نازک وزرونه پرانیزی، او کوز اوپاس الوزی، د محبت نغمی او روی !.

اودا پستی وزمی چه په پته خوله اوغوړولی غیږ دنړۍ پر مخ چلیږی ددی لپاره چه دمحبت پیغامونه، سلامونه، اواشارتونه یوسی، اوله یو ځای څخه ئی بل ځای ته ور سوی !

دا دآسمان رانه ستوری اودافلاکو لمرونه، دادباغچو زیړاوسره، گلان اودا دچمنونو شنی نازکی مرغۍ، دادپراخو دښتومست څاروی، اوداد لوړو غرونودژوروغارونوخزندگان داتول، د مینی په نعمت مست او خوشحاله دی.

نوای زمونږ دوست نما انسانانو ! ستاسی په عقیده زمونږ دژوندانه حقونه ترهغو بی ژبو او گنگو حیواناتو او بی ژبو خاموشو جماداتو لاهم ښکته او محدود، دی ؟؟ . څومره دا بی خولی موجودات بختور او او نیکمرغه دی دیوازی عقل نلرلو پواسطه ستاسی له فرمانونو او قیددونو څخه آزاد او بی غمه گرزی !!.

ای جاه غوښتونکی قومه ! پدی پوه شیء چه مونږ هیڅکله تاسی په هغه حیثیت کوم چه ستاسی آرزو ده، نه پیژنو، او نه ستاسی بندگی منو،.

نه په خپلو ځانونو اوار واحو ستاسو قدرت اوسلطنت ته غاړه ږدو ! او نه غواړو چه تل ستاسی دمخونو زیارت وکړو، اوهر وړ خبروته موغوږ ونیسو !!

نوژرزمونږ له څنگه اری شیء اوپه منډه هغوخپلو معبدونو او تور و سمڅو ته ننوځیء ! او هلته یوازی دمرگ په انتظار کښینیء !

ځکه مونږ نور ستاسی پیروی نشو کولی او ستاسی له آرزو سره سم ژوند نه قبلوو ! زمونږ پشان پازړونو نرۍ تورسری، او په عقلونو کمزوری وگړی، موجود دی هغوی ستاسی په خوږوزهر وژر غولیږی او دشاتو په گمان ځانونه پری مسمو موی !

مونږ د هغو د حمائی او ساتنی لپاره ستاسی مخی ته دریږو، څوئی هغه لږ د زړونو زور . اودعقلونو رڼا ور څخه یونسیء اوفاسده ئی نکړیء؟!.

مونږ بیله خدایه دبل چانه بندگی کوو اونه د خپل خدای په خدائی کښی دشریك په حیث ورته قائلیږو، زمونږ داپه وس کښی ده چه خپل معبود ته د پیژندنی لاره پیدا کړو، ستا دلالی او وساطت ته هیڅ اړتیا نلرو!.

د کائناتو د کتاب پاڼی زمونږ په مخ کښی خوری دی . دلوی اوحکیم خدای دقدرت ظاهری نښی موستاسی له کتابونو او آیاتونو څخه بی نیازه کوی !.

دطبیعت نغمی او ترانی، مونږ ستاسی قصیدو او زمزموته اړ نه پریږدی ! اودا ځلیدونکی ښایست چه د کائناتو په آسمان ځمکه . په ناطق او صامت په ښوریدو او ولاړه کښی زمونږ ستر گو ته بریښی ؛ مونږ ته دخدای تعالی د حسن او جمال وړانگی راښیی، څوئی له لیدلو مست شو او د بندگۍ سر ورته په ځمکه ولگوو، بیا په ډیره آرامۍ اوخورا دقت د خدای

فرمان ته غوږو باسو چه وائی :

«ای انسانانو! له دی چه ښایست ستاسی د کتمی اخیستلو لپاره پیدا شویدی، نو ښه تری واخلیء تاسی ما د ښایست د پیژندنی لپاره ژوندی کړی یاست، نو جمال وپیژنیر اوژوندی ئی کړیء !»

مونږ له دی هیسته یوازی دغه د خپل خدای امر اورو، اومنو !

دبل چا امر او ښوونی ته نه غوږ ږدو او نه تصدیق یری کو و !

دخوان له ویری دك شکایت دی ځایته رسیدلی وو، چه ژبه ئی درنه شوه اندا مونه ئی ور دیږیدل. خوله ئی بته ونیوله ستر گې ئی یوی او بلی خوا ته واوښتلی، او پر ځمکه و لکید.

په ډیر زور ئې سا ښکله، دسینی ئی سخت غږ کی شو، او له ژړا سره گډ نری زگیروی ئې او ریدل کیده.....

سپین زبری کاهن چه تر اوسه په دوو، پښو وچ و لاړو. په تلوار ور دمخه شو، لاس ئی برتندی ور کیښود، اوورته وئی ویل : زویکه! پر خپل ځان ورحمیږه.

او دومره ډیر مه مایوسه کیږه ځکه نه ته ددی نړی پر مخ هغه اول کس ئی چه په عشق کښی ناکامه شوی ئی او نه دی محبوبه او لنی پیغله ده چه د محبت او فراق داغ ئی له ځان سره خاورو ته وړی وی !!

زویه! دخدای تعالی درحمت په خزانو کښی د صبر کوونکو لپاره ډیر ډیر تسلیتونه او راز راز عوضونه شته! نو مه مایوسه کیږه !! ځوان د سپین زبری لاس پخپله خوا پوری ونیو او په وار وار ئی مچ کړ، او ورته وئی ویل : پلاره ما وبخښه ! زه نادم یم ..

پلاره ! دا پیغله پدی وطن کښی بر دیسه ده او بی له ما بل کرم قریب نلری دا زما له پاره او زما د آرزو په لار کښی مړه شوه نو اجازه را کوی چه یو وار ورو ځکیږم او د اخیر ځل له پاره ئی دهغه ر ما ئې ځیبلی تندی د خدای پاماني په تو گه مچ کړم ؟

سپین زبری ویل: ډیره ښه ده زویه!

ځوان د ... ورو ورو ورو ځکید، او په خپلی گرانی او نامرادی محبوبې ئی غږیږ وغوړوله او تینگه ئی په خوا پوری ونیوله، دغم له زوره ئی دغاړی پلې سستی شوی، سر ئی وځړید او خوله ئی دلمړی ځل له پاره دخپلې معشوقی په وچو شونډو ولګیده. تول تن ئی ولړزید او روح ئی والوت!!

کرمه گړی چه دا دوه ارمانجن شهیدان دیوی شنی ونی لاندی دهغی جاری ولی په غاړه خاورو ته وسپارل شول،

دغم وهلی او کم نصیبی مور ملگری چه کله کله، به ئی ددی حال پوښتیده تیره شوه مگر خواره او کړو به مور ئی دهغه سروازی قبر تر څنگه چه ددی دهمیشه کښینا ستو ځای و و نه لیدله!!؟...

څو گامه مخته د قبر غاړی ته ورغله، گوری چه په ستر گو ړنده مور، له ارمانونو دك زړه په غیږ کښی، وچه کلکه خړه، پړه په سپیرو خاورو کښی نسکوره پرته ده !....

زړه سوا ندی میر مـنی، هغه را ایستلی شوی خاوری، دشهیدی بوډی قبر ته ور پوری وهلی. او هغه تول زاړه ارمانونه ئی تر توږو خاورو لاندی کړل او بیا ئی د اوښکو یو تر بخ ځاځکی ددی پر گور ورځخاوه چه، «دما بوسی مور دتول ژوندانه څخه هماغه نه اوښکه په برخه وه» !!!

ښاغلی ثابت

افغانستان د نورو په نظر کښی

دوهمه برخه:

ښاغلی استاذ عباس «محمود العقاد» مصری لیکوال د افغانستان د تاریخی موقف په باب کښی او په پښتو پوری مربوط ځینی تاریخی موضوعات د «مجلة افغانستان» په مجله کښی چه په قاهره کښی د افغانی د سفارت له خوا خپریږی خپاره کړی دی. نوموړی په اجمالی ډول دالاندینی مواد راوړی دی:

اول: د پښتنو له خوا دبنو امیو د امپراتوری نړیدل او دهغی په عوض یی دبنی عباس د دولت قائمول یاد کړی دی. په دغه باب کښی د کابل مجلی په (٤٤٢) گڼه کښی ئې مونږ څه لیکلی او لږ څه تفصیل موور کړی دی.

دوهم: ده ویلی دی: (چه د عباسي خلفاؤ د خلافت په مرکز کښی د پښتنو د بلخی (برمکی کورنۍ) یو لایق او زیات فاضل شخص چه (خالد برمکی) نومید د دوی د اداری چارو د اجرا کولو لپاره هلته وزیر مقرر ؤ.

بل په افغانستان کښی د پښتنو د طاهریانو د کورنۍ حکومت او پاچاهی دوی په رسمیت پیژندلی وه.

بل عباسی خلفاؤ د پښتنو د سامانی بلخی (باختری) کورنۍ له افرادو څخه ځینو لایقو او غښتلیو سړو ته د ماوراء النهر د هیواد حکومت او پاچاهی سپارلې وه.

اوس مونږ غواړو چه د دغو موضوعاتو په باره کښی لږ تفصیل ور کړو هغه په دی توگه دی: کوم وخت چه زمونږ پخوانی نامتو پښتانه غرځستانی ابومسلم چه په (ابومسلم خراسانی) معروف ؤ. دبنو امیو دولت له منځه وایست او دهغه پر ځای ئی دبنی عباسو دولت منځ ته راوړ. ابوالعباس سفاح یی د اسلام خلیفه وټاکه نوله دي کبله چه د پښتنو توره او پیاوړ توب او پوره لیاقت په ټوله نړۍ کښی ثابت او څرگند شو، چه د اسلامي خلافت بلکه د اسلامی نړۍ مقدرات یی بدل کړل نو د عباسی خلافت مشر نوموړی سفاح د پښتنو او ابومسلم د خوښۍ او رضائیت حاصلولو دپاره داسی اقدام وکړ چه د خپل دولت د اداری چارو واک یی ده ته وسپاره، او دده په قول ئی د افغانستان د برمکی کورنۍ یو لایق پښتون (خالد برمکی) بلخی پخپل دربار کښی وزیر وټاکه او دغه وزیر دومره واک لاره چه د دولت ټولی چاری به دهغه په رابه اجرا کیدلې او دهغه عزل او موقوفه کېدل هم د ابومسلم په اختیار او واک کښی و، پخپله د خلیفه په واک او اختیار کښی دانه و، چه پر ته د پښتانه ابومسلم له خوښۍ او رضائیت څخه دغه پښتون وزیر عزل او موقوف کاندی.

او په افغانستان او ماوراء النهر او په همدی شان د ایران پر هیواد باندی هم پخپله د ابومسلم شهنشاهی وه.

د نوموړی ابومسلم له مړینی څخه وروسته د افغانستان اداره

یوی بلی پښتنی کورنۍ په لاس کښی وینوله چه هغه د طاهریانو له کورنۍ څخه و. له دې لاری د پښتنو خپل هیواد د افغانستان پخپل لاس کښی ؤ او د هغه پاچاهی بلکه له هغه د باندی د ایران د یوی ستری برخی پاچاهی هم د دغو پښتنو د پاچهانو په لاس کښی و ه.

طاهریان: د غور په سیمه کښی د هرات د ښار لمرختیزی خوا ته د «پوشنګ» په ښار کښی یو مشر پښتون ؤ، چه طاهر نومید او په «ذو لیمنین» مشهور او ملقب ؤ ځکه چه دی د سخا خاوند او یو میلمه پالونکی او ډوډۍ مارسړی ؤ. دی د حسین بن مصعب بن فرخ زوی ؤ. نو موړی طاهر په افغانستان کښی د طاهری حکومت په نامه یو پښتنی مستقل حکومت جوړ کړ (۲۰۵ هق) د تخارستان، بلخ میمنی، مروی، هرات، نیشاپور کرمان او سیستان ولایتو نه د ده په لاس کښی و. له ده څخه وروسته د ده زوی طلحه په ۲۱۳ هـ کښی پر تخت کښیناست، دغه شخص له اسلامی خلافت سره د دوستۍ رویه ونیو له او ښه روابط او په زړه پوری مناسبات یی ورسره قائم کړل. او په عین حال کښی د اسی نه و، لکه د برمکی کورنۍ سړیو چه ټوله هستی او خپله کامله قوه د عباسیانو د پاره وقف کړی وه. بلکه په ښه ډول یی خپل ملی غرور وساته او بشپړ مستقل افغانی حکومت ئی اعلان او قائم کړی ؤ چه پرته د دوستۍ له مناسباتو څخه نور یی له هیڅ لاری د هغوی بار نه مانه او په خوراښه ډول یی پښتنی شهامت وساته.

نو ده وروسته د طاهر مشر زوی عبدالله چه په بغداد کښی د پښتنی خراسانی سپه سالار په حیث د اسلامی خلافت په لښکرو کښی سپه سالار ؤ، او په عباسی دولت کښی یو نامتو غښتلی نظامی افسر ؤ په شام، مصر او فارس کښی ئی زیاتی لوړی نظامی چاری اجرا کړی او ټولی کامیابۍ د ده پر نامه تمامی شولې؛ او د خپل پلار طاهر غوندی په ښه سیاست، غوره تدبیر مشهور او عسکری امورو کښی ښه لایق او یو نامتو شخص ؤ. کوم وخت چه افغانستان ته راغی او په افغانستان کښی ئی حکومتی چاری په لاس کښی ونیولې، د افغانستان د حکومت چاری ئی په خورا ښه ډول تنظیم کړې او د فارس او طبرستان د خلکو اغتشاشونه ئی چه د عباسی دولت په مقابل کښی به ئی کول غلی او له منځه وایستل، عباسی دولت ته ئی آرامی راوستله او دائی هم وکړه چه د عباسی امپراتورۍ په چارو کښی ئی د پښتنو دواک او مداخلی حق هم د پخوا په شان ثابت او باقی وساته.

سر بیره پردی په ښه تدبیر او قوی سیاست دا شخص یو خورا فاضل، د علم خاوند او علم پروره او د علماؤ روزونکی پاچاؤ. دی ښه ادیب او موسیقی دان هم ؤ. او د ایران د هیواد د طبرستان او گرگان (جرجان) د ولایتو سیمی هم د افغانستان د طاهری پښتنی حکومت له مربوطاتو څخه وی.

لنډه دا چه دغی پښتنی کورنۍ طاهریانو د افغانستان استقلال ښه وساته. او له عباسی خلافت سره یی هم ښه روابط لرل او له دی لاری ئی*

ښاغلی محمد حسن «سابی»

د تاریخ د تحول او تکامل سیر

تاریخ د یوی ډېرې اوږدې اولا محدودې زمانې په ترڅ کښې راز راز تحولات او بدلېدنی کړی، مختلف نومونه او شکلونه ئې غوره کړی او بیلو بیلو غایو او مقاصدو ته ئې خدمت کړی دی خو سره لدی ټولو تحولاتو او بدلېدنو کوم سیر چه تر اوسه پوری تاریخ تعقیب کړی هغه لکه د نورو علومو تکاملی او ارتقائی دی پدی ډول چه له ساده نه مرکب او له ادنی نه اعلی خواته تللی دی.

په همدې ډول تاریخ د بشر په نظر کښې هم په مختلفو رنګونو او شکل برېښېدلی او د بشر په ذهنیت کښې ئې مختلف حیثیتونه او ځایونه اختیار کړیدی مثلا یو وخت تاریخ عبارت ؤ له روایاتو، کیسو، نکلونو او داستانونو څخه او هغه یو ځنی وسیله چه دغه روایتونه او داستانونه او کیسی او نکلونه ئې راتلونکی نسل او زمانې ته په یاد ورکول هغه ژبه او حافظه وه. مګر دلیك د ایجاد نه راپدیخوا تاریخ شروع کړچه ورو ورو ځانته د یو علمی مقام زمینه مساعده کړی. (۱)

* د اسلامی نړۍ اتحاد او یووالی ښه ټینګ ساتلی ؤ.

د پښتنو طاهری حکومت په دې ملاحظه چه قرآن عظیم الشان چه یو غوره الهی کتاب او د بشری ټولنی د ښې نیکمرغۍ او هوسائی د ساتنی د پاره یو خورا ستر قانون دی. نو لازمه ده چه د هغه له معناګانو او بشپړې فلسفی څخه پښتانه پوره خبر او پرې پوه وی چه د خپل حیاتی نظام او اخلاقی چارو په ښه کولو کښې له دغه معجز کتاب څخه ښه استفاده وکړای شی او دا کتاب چه په عربی ژبه دی نو پرته د عربی ژبی له زد کړی څخه له هغه څخه ګټه نه اخیستله کیږی، او له دې امله چه عربی ژبه هم یو خورا مکمله ژبه ده او علم، فنون او ښه عالمان پکښې شته، نو دغو طاهریانو د عربی ښه پیروی وکړه او د عربی دزد کړی او خپرولو د پاره ئې زیات کوښښونه وکړل. له هغه وخته څخه دی چه زیات عربی لغتونه په پښتو کښې راغلی دی او زیات ئې مفغن شوی هم دی د نوموړی پښتنی حکومت (طاهریانو) د علم پالنی او علمی روزنی د مکملی توجه په اثر ؤ چه په هغه عصر کښې په افغانستان کښې خورا زیات علماء او ښه فاضلان پیدا شول. او په ټول هیواد کښې علم او فضیلت خپور شو او د مختلفو فنونو پوهان منځ ته راغلل، په تېره بیا د ریاضی او هندسی فن او د اسلامی علومو او تبلیغ فن خورا زیاته ترقی وکړه

(۱) پدغه لړ کښې زمونږ مطلب د تاریخی اسنادو او موادو ترتب او توین (په هر شکل چه وی) دی نه تاریخی مواد او اسناد ځکه تاریخی اسناد او مواد لا پخوا د انسان سره یو ځای منځ ته راغلی دی. «سابی»

داوو، د پښتنو د طاهری کورنۍ د حکومت لنډ بیان چه ښاغلی العقاد یاد کړی دی!!

دغه مرحلې مثبتو علومو (سائنس) هم هر یو پخپل وار تېری کړېدی او له ساده نه مرکب او ادنی نه اعلی ته رسېدلی او د بشر په ذهنیت کښې ئی مختلف حیثیتونه او ځایونه اشغال کړی دی د مثال په ډول طبی علوم چه یو خت طب سحر او جادوگری او طبیب سحرگر او جادوگر گڼل کېده او د مرضونو منشاء او مبداء شیاطین او پېریان او نور متافیزیکی قدرتونه تصور کېدل.

داخو ځکه چه بشر په هغه وخت کښې ساده او بدوی ؤ د واقعاتو د پېښېدو په علتونو او بیا د هغو ترمنځ د روابطو او مناسباتو په مېندلو نه ؤ قادر او د دوی ذهنیت خام او معلومات ئی متفرق او عامیانه او د تفکر طرز ئې ساده ؤ.

بهرحال بدغه لړ کښې تر دې زیات غږېدل له اصلی موضوع نه وتل او د علومو په تاریخ کښې ننوتل دی نو دا دی په لاندې ډول خپله اصلی موضوع چه عبارت دی د تاریخ د تحول او تکامل له سیر څخه او دا چه له تاریخ څخه په مختلفو دورو کښې د کومو مقاصدو د پاره کار اخیستل شوی او تاریخ څنګه تلقی شوی او کوم نومونه ئی اختیار کړېدی په هاخپل ترتیب تر بحث لاندی نیسو:

تاریخی داستان:

«په دېرو پخوا زمانو کښې یعنی کله چه لیك او لوست (په هر شکل چه ؤ) لا نه ؤ ایجاد شوی په بشری ټولنو کښې ځینی خلك وو چه د تېرو واقعاتو په متعلق ئې روایات او عنعنات او کیسې او نکلونه ترتیب او تدوین کول او د یو داستان په شکل به ئی د خلکو په مجلسونو او ټولنو کښې په آزاد ډول بیانول. لپاره د دې چه د دوی داستانونه خوندور او موثر واقع شی، نو کوشش به ئی کاوه چه خپل داستانونه مسجع او منظوم کړی.

پدغه راز پر شفاهی حکایتونو او نکلونو یونانیانو «تاریخی داستان» نوم ایښی دی یعنی په هغه وخت کښې تاریخ عبارت ؤ له دغو داستانونو څخه او مورخ هغه ؤ چه دغه راز داستانونه به ئی ترتیب او تدوین کول.

که څه هم چه د دغو داستانونو موضوع د تېرو حادثاتو (یو اځې) شرح وه او له همدې وجی تاریخی داستان هم گڼل شوی ؤ؛ خو څرنګه چه له بوې خوا ئې ماخذ د خلکو ژبې او حافظی (چه په یو حال نشی پاته کېدای او قابل تغییری) یا په بل عبارت روایات او عنعنات او کیسې او نکلونه و، او له بلې خوا «داستان جوړوونکو او ویونکو خپل خیالات او احساسات هم پکښې گډول نو ځکه علمی خوائې ډېره ضعیفه وه

محرر تاریخ:

کله چه لیك ایجاد او تعمیم شو نو تاریخ هم د لیك د ایجاد او تعمیم سره سم یو ارتقائی گام واخیست. تېر حادثات چه چه د هغو خاطرات به پخوا په حافظو کښې ساتل کېده اوس په کتیبو او پاڼو کښې (چه که حادثات او ناوړی پېښې او نور خارجی عوامل هغه له منځه

یونسی نوغیر قابل تغییر او دهمیشه
دپاره په ها خپل حال پاته
کېږی) وسائل شو. پدې ډول
چه د هغه وخت د ولسونو
سیاسی مشران او دقدرت خاوندان
لپاره ددې چه له یوې خوا خپل
موجوده قدرت او صلاحیت
داسې و برېښوی چه گڼی
دا قدرت او واک دوی ته له پلرونو
څخه په میراث ور پاته شوی دی
نو هغه به ئې له قوانینو سره
یو ځای په چا ولیکل او خپل
موجوده واک او صلاحیت به ئې
پدې وسیله خپلو اخلافو
اورا تلونکو ته هم په میراث
برېښود او له بلې خوا هغه
پېښی چه دد وی د سلطنت په
لمنه کښې پېښې شوې وی او یا
هغه کارونه چه دوی کړی و
او افتخارئی په دوی منحصر ؤ
هغه به ئې هم په چا ولیکل.

پرته له دوی نه روحانیونو
هم هغه څه چه ددوی په عقائدو
او مذهبونو پورې اړه درلوده
او یا کوم خصوصیات چه ددوی
په مذهبونو کښې ؤ هغه به ئې
لیکل نو دغو لیکمو ته محرر

تاریخ وویل شو. »

وائی «څرنگه چه دمحرر تاریخ
ایجاد او دانکشاف عامل ئی یواځې
دحکومتونو سیاسی اساسات و
نو دغه تاریخ په هغه ځای کښې
منځ ته راغلی چه هلته یو قوی
او متمرکز حکومت رویکار ؤ
لکه مصر، چین مگر هند چه له
سیاسی تشکیلاتو او دیو مقتدر
او متمرکز حکومت نه محروم
ؤ هلته محرر تاریخ په هغه وخت
کښې لا منځ ته نه ؤ راغلی
او هندیانو یواځې په حکایتونو
او روایاتو اکتفا کوله، »

«ددغسې تاریخ ډېر لرغونی
اثار چه تر اوسه پلاس راغلی دی
هغه کتیبې او تاریخی خطابې
دی چه په هیرو گلیف
او ایدوگرام (فکری خط)
باندې کښل شوی دی، »

«څرنگه چه ددغسی تاریخ
لیکونکی یا پخپله د پېښو
لیدونکی او یا دهغو معاصدؤ
نولدی کبله نسبت تاریخی
داستان ته ئې تاریخی ارزښت
او دوثوق درجه زیاته ده

حکایوی تاریخ:

دمخه مووویل چه محرر
تاریخ په هیرو گلیف (مقدسه
مصکوکات) او ایدوگرام
(فکری خط) کښل کېده.
«څرنگه چه ددغه راز لیک په
لیکلو او لوستلو هر څوک نه
پوهېده او له هغو نه استفاده او
افاده دیوې مخصوصې او تاکلی
ډلې (اشراف او روحانیون)
انحصاری کارو، نو دغه محرر
تاریخ یواځې په مصر او چین
او بابل کښې (هغه هم د دغو
ملکونو په اشرافو او روحانیونو
پورې) محدود او منحصر پاته
شو او عمومیت ئې و نه موند »
«خو کله چه دفنیکیانو له خوا
پخوا ترمیلاد د نه. لس سوه
کالو په شا خوا کښې
صوتی یا حرفی لیک چه افاده
او استفاده ئې دهر چا د پاره
آسانه او ممکن وه ایجاد او
بیا پخپله د دوی له خوا چه
بو تجارت پېشه او په او بو او وچو
کښې بو گرزنده کام ؤ په لوېدیح
کښې تر یونان او په ختیز کښې
تر هندوستانه پورې یو ډل شو

او غموسیت ئې و موند په همدغو وختو کښې ؤ چه په فلسطین کښې دداؤد (ع) او ورپسې د سلیمان (ع) سلطنتونه منځ ته راغلل او د اسرائیلو دولت جوړ شو «په دغو دولتونو کښې ځینې خلك پدې پسې شول چه دحروفی او صوتی لیك په مرسته دعبرانی کام تېر حالات او ددغو دولتو نو څرنګوالی ښکاره کړی او وئې لیکی نو ددغو خلکو دغه لیکنې لومړنۍ لیکنی دی چه په هغه کښې روایات د حکایتونو په صورت ثبت شوی دی».

«اوله همدې کبله دغه ډول تاریخونو ته حکایوی یا مروی تاریخ وائې» «څرنګه چه د دغه راز تاریخ ماخذونه روایات دی؛ نو بنا پدې وثوق او صحت ئې مشکوك دی او د اعتماد وړ نه دی.»

تاریخ په یونان کښې :

هر کله چه د تاریخ د تحول سیر په یونان کښې تر بحث لاندې نیول کېږی نو تر هر څه او هر چا دمخه هیرودوت چه د تاریخ او مورخینو پلار ګڼل شوی دی په یادراځی نو بنا پدې مونږ هم خپل بحث لومړی دده په نامه شروع کوو :

هروودوت: (٤٨٤-٤٢٥) ق.م

په لرغونی یونان کښې تاریخ د هرودوت تر راتګه پورې خپل ابتدائی او ساده مراحل ئې طی کړی دی «خو کله چه هرودوت په کوچنۍ ایشیا (ترکیه) کښې دنیا ته راغی او په مصر، بابل او فلسطین کښې وګرزید وروسته له هغه ئې خپل تاریخ په یونان کښې د ایونیك په لهجه و لیکه دده کتاب چه هستوریز (پوهیدنې او پیژندنی) نومیږدی دنیا په ډیر وژبو کښې ترجمه شوی دی. دغه کتاب چه یحیی برمکی بلخی او حجاج ابن مطر په عربی ژبه ترجمه کړی نو په هغه ئې جغرافیة المعمور او صفت الارض نوم ایښی دی.»

دغه کتاب چه د تاریخ په دنیا کښې لومړنی اثر دی پر ته له خپل تاریخي لوړ حیثیت او تاریخی معلوماتو څخه ډېر جغرافیائی معلومات لری چه ددغو تاریخی او جغرافیائی معلوماتو له مخې د ډېرو ولسونو او ملکونو تاریخ روښانه شوی نو په دغه لیاره کښې دده د قدامت او خدمت په لحاظ ځکه دی (هرودت) د تاریخ او مورخینو پلار ګڼل شوی دی.

هرودوت که څه هم چه د خپل تاریخ په لیکلو کښې د خپلو اسلافو له تأثیر نه بیخی ندی وتلی خو بیا هم کوم مهارت او لیاقت چه د افکارو او خاطراتو او حادثاتو په ترتیب او ترکیب کښې ښودلی دی دده تاریخ نسبت پخوانه یو ډېر مختار او غیر قابل مقائسه اثر ګڼل کیږی.»

«ځینی منابع وائی چه د هستوری کلمه د تاریخ دیاره لومړی د هرودت له خوا استعمال شوه خو ځینی بیا دغه نظریه مردوده ګڼی او وائی چه (هستوري) چه د (هستوریز) مفرد شکل دی او معنی ئې پوهېدل او پیژندل دی له پخوانه په یونان کښې معموله او مروجه وه.»

«د هیرودوت په تاریخ کښې د ځینو محققینو او څیړونکو انتقاد دادی:

چه هرودت لکه دخپلو اسلافو په روایاتو او حکایاتو هم اتکاء او استناد کری دی او واقعات ئې بی له دی چه د هغو علتو نه ویلتی په مجرد ډول لیکلی دی او په ځینو مواردو کښې ئی په متافزیك (ما فوق الطبیعت) هم تکیه کړیده نو بنایدې دده تاریخ د یو علمی تدقیق نتیجه نه ګڼل کیږی.»

توکیدیدس:

هغه څوك دی چه په یونان کښی له هیرودوت نه یوه پیړۍ وروسته په تاریخ کښی ئې دخپلو اسلافو دروش په خلاف تقریبا یو علمی اثر منځ ته راووړ.

«په یونان کښی داتن او اسپارت ترمنځ دپلوپونز په نامه چه کومی جګړې پېښی شوې وې توکیدیدس دهغو شرح پداسې ډول ولیکله چه لوستونکی پدې باندې قادر کوی چه له یوې خوا دهغو جګړو واقعی حال دخیال په ستر ګو وو یئی او له بلې خوا دهغو جګړو په ماضی او مستقبل باندې هم مناسب حکمونه او قضاوتونه وکړی. ځکه توکیدیدس ددغو جګړو په نښته او شلیدته، غلبه او مغلوبیت کښې له یوې خوا د یونان دآله ویاد نومیالیو اشخاصو لاس نه ؤ ګډ کړی او له بلې خوا دعه جګړی او نتایج دآتن او اسپارت دخلکو د حال او تېرژوند په حیاتی شرائطو پورې مربوط ګڼلی ؤ.

سربېره پردغه علمی اصول او آفاقی ذهنیت چه دهغه په مرسته توکیدیدس خپل تاریخ لیکلی دی یواځې په هغوئی هم اکتفانده کړې بلکه لپاره ددې چه ثقه او معتبره اسناد او معلومات ئی پلاس راوړی وی او بیائی دتاریخ په نامه عرضه کړی وی حتی «په ځینی ځایو کښې ئې لکه د(ډلس) په تاپووزمه کښی په حفریاتو او عملی پلټنو هم لاس پوری کړی دی.»

کوم اصول چه توکیدیدس دخپل تاریخ په لیکلو کښی کار ترې اخستی دی تقریبا علمی(۱) او هغه ذهنیت چه دی ئی دواقعاتو دپېښیدو په نسبت لری کاملا ماتریالست یعنی دمادیت په اصول بنادی.

نو بنایدی توکیدیدس لومړی سړی دی چه دلومړی ځل دپاره ئی تقریبا یو علمی تاریخ هم دلومړی ځل د پاره پخپل علمی کیدر، له همده (توکیدیدس) نه شروع وکړه.

پولیوس:

«وروسته له توکیدیدس نه پولیوس یونانی چه یوه پیړۍ دمخه ترمیلاد لاژوندی ؤ دوهم سړی دی چه تاریخ ته ئی یو علمی رنګ ورکړ.

«ده (پولیوس) هغه پېښی ولیکلې چه ترمیلا دپخوا د ۲۶٤ او ۱٤٤ کالو ترمنځ په یونان او د هغه په شاوخوا کښې پېښې شوې وې ده پرته لدې چه ددغه کالو ترمنځ پېښې ئې په یو علمی رنګ ولیکی بلکه د تاریخ د لیکلو په اصول کښې ئې پرنسیبونه هم وضع کړل لکه داچه وائې:

(۱) دلته خو موځکه د (تقریبا) کلمه استعمال کړه چه توکیدیدس په خپل تاریخ کښی په ځینو برخو کښی ئی په حکایاتو او روایاتو هم استناد کری دی.

دتاریخ لیکونکی مکلف دی چه دغو سوالو تو ته ځواب ووائی: واقعات د کومو اثراتو له مخې پېښ شوی او په څه ډول ئې جریان کړی؟ او څنګه ئې خاتمه مندلی ده؟ یعنی د مورخ وظیفه ده چه د یوې واقعې اسباب او نتائج تدقیق کړی.»

«پولېویوس پخپل ژوند کښی ډېرې جګړې او شخړې او دولسو نومدو ته او جزرو نه پخپلو ستر ګولیدلی دی او له خپلو لیدنو او مشاهداتو څخه داسې نتیجه اخلې: ملت بې لدې چه د معینو اشخاصو د ذاتی مزایاو تابع وی په مستقل ډول انکشاف کوی. له تدریجی تکامل نه بیا په تدریجی ډول د سقوط او زوال په دوره کښې داخلېږی.»

«څرنګه چه پولېویوس د واقعاتو په ښکاره کولو کښې په علمی روابطو استناد کړی دی نو له همدې کښله دی د علمی او روزمره (پراګماتیک) تاریخ موسس ګڼل کېږی.»

«وروسته له پولېویوس نه چه په یونان کښی کوم مؤرخین منځ ته راغلل ځینو د پولېویوس لیاره غوره کړه او ځینې د خطابیاتو په لیاره چه زیاتره ئې ادبی ذوق ته خدمت کاوه روان شول او بیا ځینې نور په داسې لیارو ولاړل چه واقعات ئې بواځې د هغو د پېښېدو په تاریخی ترتیب لیکل بې لدی چه د هغو ترمنځ مناسباتو او روابطو ته اهمیت ور کړی.»

تاریخ په روم کښې:

«د تاریخ په لیکلو کښی رومیان د یونانیانو زیاتره مقلد او پیرو ګڼل کېږی خو د ځینو رومی مورخینو اثار لکه (لسیتا) که چېرته د یونانی مورخینو لکه توکیدیوس یا پولېویوس له اثارو سره برتله کړی شی. نو دغه لاندې تو پېر به د دوی د آثارو ترمنځ څرګند شی چه یونانیانو د تاریخ علمی خواته ډېره هڅه کړېده او ادبی خواته ئې کتلی هم ندی او له همدې کبله د دوی آثار (بې له هغو چه کسب او کارئی ماضی تدقیق او تحقیق وی او وغواړی چه و تېرې زمانې نه ثقه معلومات پلاس راوړی) دومره لوستونکی نلری. مګر برعکس رومیانو بیا د تاریخ علمی خواته لکه د یونانی مورخینو په شان هومره هڅه نده کړې او نسبت هغه ته ئې ادبی انشاء ته ډېر اهمیت ور کړې دی.»

«هغه وخت چه د روم لویه امپراتوری جوړه شوه نو دا اړه احساس شوه چه باید د هغو مملکتونو تېر حالات غونډ او ولیکل شی کوم چه پدغه لویه امپراتوری کښی داخل وو څرنګه چه د دغې امپراتوری په لمنه کښی ډېر ملکونه او ولسونه پراته ؤ نو څوک بریالی نشو چه داسې یولوی او عمومی تاریخ ولیکی، که څه هم چه د یو دورس (چه دا ګوست معاصر ؤ) اراده وکړه چه د جهان پېښې تولې کړی او وئې لیکی خو بالاخره ده دغه واقعات او حالات غونډ کړل او وئې لیکل مګر پدی ډول چه د هر ولس او هر ملک واقعات او حالاتې ځانله ځانله هغه هم په یو ادبی اسلوب ولیکل بې لدې چه د دغو واقعاتو ترمنځ روابط او مناسبات ښکاره او تدقیق کړی، حال دا چه د یو علمی تاریخ په لیکلو کښی تر هر څه د مخه لومړی شرط دادی چه د واقعاتو ترمنځ روابط او مناسبات ښکاره او تدقیق

اوو څېړل شي . بهر حال په رومیانو کښې لکه څنګه چه دمخه موویل د تاریخ علمي پله سیکه او ادبي او صنعتي پله ئې درنده وه».

تاریخ په منځنیو پیړیو کښې

وروسته له عمومي لیږدېدنو دارویایه کلتور کښې بوښکاره انحطاط راغی چه د هغه په اثر دعلمي څېړنو په ذوق کښې لږوالی ښکاره شو او تقریبا زیاتره علوم او علمي څېړنې له نظره ولوېدې چه په دغه لړ کښې تاریخ هم شامل دی.

«یدعو پیړیو کښې تاریخ کټ مټ لکه دلومړنیو پیړیو د تاریخ په شان عبارت ؤ د نامربوطو او مجردو واقعاتو د مذهبي نظریاتو او د حکایاتو له تشو لیکنو څخه.»

«که څه هم چه ځینو مورخینو چه له هغه څخه (پاتریك) او (فوتیوس) ئې نومیالي دی تاریخي مواد ئې له لرغونو اشارو څخه په زیاته اندازه اقتباس کړي و خو څرنګه چه دوی کوشش کاوه چه د واقعاتو تر منځ مناسبات په کلامي او دیني شکل ښکاره کړي نو ځکه د دوی د اثارو آفاقي او علمي قیمت لږوی.

تاریخ په اسلامي دوره کښې

«د اسلام په لومړیو کښې تاریخ عبارت ؤ له سیرة النبي د دین او مذهب د لویانو د احوالو شرح او اسلامي فتوحاتو څخه او لومړنې سړی چه د دغسې تاریخ په تدوین او تألیف ئې لاس پوری کړ، عروه ابن ظهیر نومېږی چه په ۹۳ هجري کال کښې مړ شوی دی کله چه د اسلام نفوذ او د اسلامي فتوحاتو لمنه پراخه شوه او عرب له نورو مفتوحه او همسایه دولتونو او ولسونو سره په تماس کښې شول د اضرورت پیدا شو چه د دغو ټولو ولسونو او دولتونو په شمول عمومي تاریخ ولیکل شي نو بنایدی لومړی سړی چه په عربو کښې ئې عمومي تاریخ کښلی احمد بن ابي یعقوب ابن واضح مشهور په (ابن واضح یعقوبي) دی» دده لیکلی تاریخ دوه برخې لري یوه برخه ئې د اسلام او اسلامي دنیا د حالاتو شرح ده او بله برخه د یونان، روم، پارس او هند په متعلق کښل شوې ده خو د مره خبره ده چه څو مره تاریخونه د ابن خلدون تر را تګه پورې د اسلام په نړۍ کښې په عربي ژبه کښل شوي زیاتره په روایاتو او حکایاتو بنادي. که څه هم چه «د مامون د خلافت په وخت کښې د یونانی کتابونه د علومو په هره برخه کښې په عربي ژبه ترجمه کړي شول چه په نتیجه کښې عربو له علومو سره تماس او آشنائي وموندله خو بیا هم د اسلامي مورخینو اثار نسبت د یونان مورخینو د اثارو له تاثیر نه زیاتره د تېر و عربو او عجمو تر عنعنوي تأثیر لاندې تللي دي او تاریخي اثار ئې زیاتره روایاتي او حکایاتي شکل لري «په اسلامي عالم کښې لومړنی سړی چه د لومړی ځل د یاره ئې حکایاتي تاریخ په واقعاتي تاریخ و ګرزاوه او واقعات ئې د علت په اساس تر کتنې او مطالعې لاندې ونیول هغه د عربو نومیالی مورخ (ابوزید عبدالرحمن ابن محمد ابن خلدون) نومېږی چه په (۸۰۶ هـ) کال کښې مړ شوی دی»

«د د تاریخ ستره او درنه مقدمه پداسې ډول کښلې ده چه د یونانیانو له سبك او اسلوب نه ئې ځانله اسلوب او لیاره غوره کړی او حتی د تدقیق د طرز (اصول) له مخې هم پیړیو نانیانو لوړوالی لري.»

«د یونانیانو د تاریخ لیکلو اسلوب او لیاره خو داسې وه چه هغو د پېښو د پېښېدو اساس د حکومت شکلو نه ګڼل مګر ابن خلدون د انسانانو تر منځ روابط او د هغو تر منځ د مرستې او خواخوږی د حسیاتو ضعف او شدت د اساس او پر نسیپ په شکل غوره کړی ؤ.»

تاریخ په رونسانس او لوسنیو پېړیو کښې :

«په اروپا کښې د اسلام د انحطاط په مقابل کښې د رونسانس نهضت شروع شو او د رونسانس غایه داوه چه د روم او یونان مدنیتونه چه په منځنیو پېړیو کښې د تعصب په اثر له نظره لوېدلی و بېرته روښانه کړی. پدغه لړ کښې پوهانو پخپلو څېړنو او پلټنو لاس پورې کړ. علوم ئې ټول هر یو پخپل وار د عنعناتو له تأثیره وژغورل او د ټولو علومو په آخر کښې تاریخ هم د آلمانی نومیالي مورخ (رنګ) (۱۷۹۲-۱۸۸۶م) له خوا د عنعناتو، خیالاتو او فرضیاتو له تاثیر نه وژغورل شو.

(رنګ) ځان د توکیدیدیس خالص پیرو ګڼی او عقیده لری چه واقعات پهر ډول چه پیښ شوی وی باید کټ مټ په هغه شان نقل شی د چا خوښ شی او که نه. ځکه تاریخی حقیقت نسبت فرضیاتو او خیالاتو ته ډېر ځله مفید او ښکلی دی. په تاریخی لیکنو کښې یو مورخ باید له خیالاتو او اختراعاتو نه ځان جداً وژغوری او له واقعاتو نه بیخی جلا نشی د تاریخ د لیکلو په حلقه د (رنګ) دغه نظریه او عقیده د (تاریخی انتقاد) چه وروسته به ئی بحث راشی له اساسی پرنسیبونو څخه ګڼل کیږی.

«په همدغه پېړۍ (۱۹) کښې چه صنعتی انقلاب پیښ شو او دهغه په اثر د ولسونو د اقتصادی او اجتماعی اوضاعو په شرائطو او روابطو کښې یو ښکاره بدلون راغی او وروسته دیموکراتیک سیاسی رژیمونه روښکار شول او د ملتونو سرنوشت دهغو پخپل لاس کښیوت او سیاسی آزادی حاصله شوه، نو دغه ټولې بدلنی او نوی شرائط موجب شول چه تاریخ هم خپله پخوانۍ انحصاری او اشرافی بڼه بدله کړی. او مورخین هم د دغو نویو شرائطو په اثر خپل تیر روش هیر کړی او په ځای د دی چه د تاریخ کتاب د پاچا یانو او امیرانو د احوالو په شرح او د نظامی پیښو په ښکاره کولو منحصر کړی تر هر څه دمخه د خلکو د اجتماعی ژوند خصوصیات په نظر کښې ونیسی او د خلکو د ژوندانه جزئیات په هره دوره کښې داسی ښکاره کړی چه د تاریخ علاقمندان او لوستونکی دهغو له مطالعې څخه د تیر شویو خلکو د تولید په طرز او د هغو د اقتصادی رژیم په څرنګوالی پوره پوه شی.

او په تیرو دورو کښې د ټولنو ترمنځ د طبقاتو یو له بله جګړی او روابط او دهغو د اقتصادی استقلال درجه، د حکومت طرز او د ګړو د مداخلی حدود په حاکمه استګاه کښې، د مالکیت وضع، د ثروت د توزیع طرز د فرمان روایانو رفتار او د عمومی پوهنځی او ولی او د خلکو د ژوندانه نور جزئیات او خصوصیات په مختلفو تاریخی دورو کښې ورته پوره، پوره څرګندشی چه بالاخره د دغسی یو تاریخ لوستونکی وکړای شی د دغو تاریخی ثقه او معتبرو او مدللو معلوماتو په مرسته دهغو تحولاتو منطقی علتونه و مومی چه په مختلفو دورو کښې د خلکو په اجتماعی ژوندانه کښې پیښ شوی دی.

د تاریخ په متعلق د غه راز طرز تلقی ډیره نوی او عالمانه ده او د دغسی طرز تلقی نه د تاریخ د وظیفی اهمیت او دهغه ماهیت پوره څرګندیږی. او دا راښئی چه تاریخ څه شی دی او څنګه باید ولیکل شی؟

داؤ د تاریخ د تحول او تکامل سیر په مختلفو دورو کښې چه پورته په اختصار ویکل شو.

نوټ پدغه بحث کښې کوم مطالب چه په دغه علامه « » محدود او مختص شوی د حسن عالی بوجل له منطق او (د تاریخ لیکونکو د تحویل سیر) دادبیاتو د پوهنځی له درسی نوټ او د تاریخ تحولات اجتماعی له کتاب نه په تلخیص او اختصار اخیستل شوی دی.
«ساپی»

دالحکه چه دیو شخص دزړه امواج دیو بل شخص په بصیرت او دنور و په و زرو نو پرواز او الوتل نشی کولی . نو لکه څنګه چه په تاسو کښی هر یو د عقل په و سیع علم کښې فرداً فرداً او لحانله لحانله د خپل اهلیت او لیاقت په اندازه لحای مومی .

هم دغه شان له تاسو څخه هر یو د دنیا او ماورای د نیا په خصوص کښی خپل علم جلاسا تی .

داعلم مشترك کېدلی نشی .

دالحکه چه دده وسعت په خپل لحان کښی دانسانانو اشتراك خپل توهین کښی.

-١٨-

بیا یو لحلمی را وړاندې شو او وئې ویل :

« ماته د دوستۍ او ملګرتیا په خصوص کښی څه ووایه ! »

هغه و و یل :

ستا سو دوست هغه احتیاج دی ' چه هغه پوره او ترسره شوی وی ' هغه ستا سو هغه یتی دی چه تاسو په هغه کښی د مینی او محبت تخمو نه کری ء او شیند ی ء .

تاسو خپل دغه یتی به امتنان او تشکر لو کوی ء .

او هم دغه شی ستاسو د کور دسترخوان او نغری دی . دالحکه چه تاسو خپله لوزه او احتیاج هغه ته وری ء او دهغه څخه هوسائی غواړی ء .

په کوم وخت کښی چه ستاسو دوست تاسو ته د خپل ز ړ ه خبر ه کو ی نو په دغه و خت کښی نه تا سو د خپل ز ړه له (یه) څخه متردد کوی . او نه تاسو هغه د خپل (هوا) څخه محروم کوی . او هر کله چه هغه چپ شی نو په دغه وخت کښی تاسو د هغه د زړه خبری اور ی ء .

دالحکه چه د دوستۍ افکار ' او تول خیالات او خواهشات او تول توقعات

اوتولي ارادي هغه شيان دي چه بی دالفاظودمرستی څخه پیدا کیږی ،
اوددي کاریه اثر ددوستانو به زړونو کښی یوراز بی ارادی خوشحالی پیدا کیږی .

په کوم وخت کښی چه تاسو دخپل دوست څخه جلا کیږیء، نومه خپه کیږیء.
داځکه چه کوم شی چه به هغه کښی تاسو ته ډیر گران (عزیز) وی ممکنه ده چه دهغه دغیاب په موده کښی دغه گرانښت (عزیزوالی) تاسو ته ډیرزیات گران (عزیز) او په ښه ډول واضح اوښکاره شی .

ددي پورته مطلب مثال داسی دی لکه دیوه غره، هر کله چه تاسو په غره باندي پورته خیژیء نو دغه غریه خپل مجموعی هیئت کښی تاسو ته دومره صاف اوواضح نه ښکاره کیږی، هرڅومره چه تاسو ته دغره دلمنو څخه جګ ښکاره کیږی باید ددوستی په پرده کښی کوم مطلب نغښتی او پټ نه وی اوددوستی څخه مقصد یوالحی له هغه سره په مشترکو روحانی اعماقو کښی شراکت دی اوبس.

په کومه مینه اودوستی کښی چه مقصد پټ وی ، هغه په حقیقت کښی مینه اودوستی نه ده بلکه بوغور یدلی جال دی چه بې تجربې خلك په کښې ښکار کولی شی .

کوم شی چه ستاسو په قدرت کښی ډیر ښه او غوره وی هغه خپل دوست ته وراندی کوی.

او که هغه داهیله لری چه ستاسو دامدوجزرهم وګوری. نوهغه ته د خپل حزد طغیان منظره هم ورښکاره کوی.

داځکه چه هغه دوستی او دوست هیڅ معنی نه لری چه هغه یواځې تاسو ددې د پاره تا کلی او انتخاب کړی وی چه د هغه څخه خپل و زګارو ختو نه او دغم او پریشانۍ ډك ساعتو نه تېر کړیء.

باید تا سو د خپل دوست څخه دپور ته ذکر شوو ساعتونو په ځای دخوشحالۍ او فعالیت وخت تیر کړیء.

داځکه چه د دوست وظیفه داده چه هغه ستا سو خوا هشات او ضرور تونه پوره کړی.

نه دا چه هغه ستاسو د وختو نو تشې کاسی ډکې کړی!

تا سو دوستی په خندا او خوشحالۍ خوږه کړیء او خپلی خوشحالۍ د خپلو دوستانو سره شریکی کړیء.

داځکه چه د مینې او ژوندانه په معطره پرخه (شبنم) زړونه تازه کیږی، او په دغه پرخه د زړه غوټۍ سپړل کیږی.

-۱۹-

بیا د دغه ښار د علماؤ او فضلاؤ څخه یو فاضل راووت او وئی و یل:

«مونږ ته دوینا او نطق د ذوق په شا او خوا کښی څه ووایه!»

هغه وویل:

تاسو په هغه وخت کښی په هغه وینا پیل کویء چه په دغه وخت کښې ستا سو افکار په قطعی ډول د سکون څخه محروم شوی وی.

داخبره امکان نه لری چه ستاسو د خپل زړه په چپ والی او یواځی والی کښی تاسو په وینا او یا په بل عبارت په خپل آواز او ژبه په لوبو کولو شروع کویء

په دغه وخت کښې ستاسو دالفاظو په ټیل ماتیل کښې ستاسو افکار او مطالب غوبل او تر پښو لاندې مړه او هلاک شی .

دا ځکه چه تفکر د بسیطی فضا یو ښکلی مارغه دی دغه نفیس مارغه کله کله غواړی چه د نطق او بیان په قفس کښې د ننه خپل و زرونه دالوتلو د پاره خپاره کړی مګر الوتلی نشی ،

په تاسو کښې ډېر داراز اشخاص هم شته چه هغوی د خبرلو څو خلکو څخه یوا ځی د دې د پاره ځی چه هغوی د خپلو خیالاتو د یوا ځی والی څخه بېرېږی .

دا ځکه چه د هغو دافکارو یوا ځی والی هغوی د خپل روح د عریانۍ او اوڅ والی څخه خبروی ..

هغوی له دې منظرې څخه ویره کوی او تښتی .

دوی غواړی چه په دې وسیله دغه خپله عریانی هېره کړی او له دې کبله دوی ژرژر او ډېرې خبرې کوی.

په تاسو کښې ځینې دا ډول خلک هم شته چه هغوی په یو شی قطعاً نه پوهېږی لیکن د هغه شی په شا او خوا کښې وینا ګانی کوی او په دغه وینا کښې نه خپلې بې علمۍ ته ملتفت کیږی او نه د دوراندیشۍ کرم فکر کوی .

او ځینی په لارو او کوڅو کښې بې ارادې د داسې حقا یقود مخ نه پلو پورته کوی چه په خپله هم ورباندې نه پوهېږی.

او ځینې داراز اشخاص دی چه هغوی دا غواړی چه په خپل زړه کښې حق ژوندی او روښانه وساتی مګر دغه شی به الفاظو کښې چاته نه شی بیانولی ، او نه دغه حق ته دا لفاظو کالی وراغوستلی شی .

او نه ددې کار همت لری چه دغه حقایق دزړه دخلوت نه دژبی په ذریعه دباندې راوباسی.

دوی په دې کار کښې یا کوم اختیار نه لری او مجبور وی او یا ئې کولی شی مګر دداسې کار کول نه غواړی.

ددې ډول خلکو په سینو کښې دبیان روح تل چپ اوسی.

مګر دغه چپ والی دشعریت څخه ډکوی.

هر کله چه تاسو په کوڅه او بازار کښې دخپل کوم دوست سره یو ځای شئ نو په دغه وخت کښې خپل روح نه ددې خبرې اجازه ورکوی چه هغه ستاسو شونډې په حرکت راولی او ستاسو ژبې نه ددې کارلار نبودنه وکړی چه دهغه دحق مارغه په چغارو ګډشی. او په دې وسیله ستاسو دد وست غوږونو نه ستاسو د زړه داعلی حقیقت درد ورسیږی.

دغه آواز دهغه په زړه کښې داسی خوږ او ښکلی یاد ګار پاته شی لکه څنګه چه ستاسو په سترګو کښې د شرابو ښکلی خمار دیاد ګار په ډول پاته کیږی.

په دغه وخت کښې چه دغو سرو شرابو پیمانه بې رنګه او دشرابو صراحی ماته شی.

-٢٠-

بیا یوه نوجومی وویل:

«زمونږ آغا! مونږ ته دژوند انه دورلحو په شا او خوا کښې څه وو ایه!»

هغه و ویل :

تاسو تل د وخت په کچولو، مېچولو او تللو کښې بو خت یا ست مګر وخت هیڅوك مېچولی او تللی نه شی ،

تاسو غواړئ چه دوخت او موسم سره سم دخپل کار او دخپل روح د پاره یوه لارغوره او تجویز کړئ .

تا سو دا عقیده لرئ چه وخت یو دریاب دی او تاسو ددغه دریاب په غاړه ناست دبهاندو او بو ننداره کوئ .

مګر ستاسو په وجود کښې یو دارازشی هم شته چه هغه دوخت دتاثیر لاندی نشی راتللی ـ او هغه ته داخبر معلومه ده چه په ژوندانه کښې د وخت او ساعت حساب قطعاً نشته دی .

هغه ته داخبره معلومه ده چه تېر پرون په نن کښې تش دماضی یو نقش دی چه هیڅ اساس او حقیقت نه لری . او را تلونکی سبا په نن کښې یو خوب اوغولوونکی تصور او افسانه ده !

هغه ته د احقیقت هم ښه معلوم دی چه کوم شی چه ستاسو په وجود کښې په نغمو اخته او متفکر دی، هغه اوس هم دهغه اول ساعت په حدودو کښې قایم او په خپل اصلی ځای ولاړ دی، یعنی په هغه لومړی ساعت کښې چه په دغه ساعت کښې ستوری په آسمان کښې شیندلی کیدل . آیا په تاسو کښې به دا راز کوم یو سړی وی چه هغه ته به دا حقیقت نه وی څرګند چه هغه محبت او مینه چه انتها ده هغه مینه دده په محدود وجود کښې محدوده، پابنده او مقیده ده ـ دده د عشق افکار یو په بل پسې پیدا کیدی شی .

نو آیا د مینې په څیر وخت هم یو غیر منقسم اولا انتهاشی او یو بې قید ه رفتار نه دی ه ؟ لیکن که سره ددی هم تاسې دې کار ته اړ او مجبور یاست چه په خپلو افکارو کښی د ننه وخت په زمانو او موسمونو وویشی ء .

نو په دې صورت کښی هر موسم په نورو ټولو موسمونو محیط کړی ء .

او خپل (نن) د ماضی د یاد او د مستقبل د امید و نو سره تر غاړې باسی ء او دوی سره په خپلو کښی یو ځای او د یو بل سره مربوط کړی !

-۲۱-

بیا د کلی مشرانو او خانانو وویل:

« مونږ ته دښو او د بدو په شا او خوا کښې څه ووایه! »

هغه وویل :

کوم شی چه ستاسو په وجود کښې نیك او ښه دی، د هغه خو زه ذکر کولی شم!

مگر کوم شی چه ناوړه او بد دی د هغه په خصوص کښې زه څه ووایم ؟

او دا ځکه چه بد پر ته له هغو نیکو څخه بل کوم شی کېدلی نه شی چه د هغه صورت داشتها او خواهش سلطې منع کړی او گرځولی وی،

یعنی حقیقت دا دی چه په کوم وخت کښې نیك لوږه واخلی نو له ډېری لوږی په تیار وغارو کښی هم د خپل خوراك په پلټنه پسې ننوځی .

هر کله چه دی ډېره تنده وار خطا کړی نو په دغه وخت کښې دی پلیتی او ناولی او به هم څکی.

تاسو تر هغه وخته پورې نیك یاست تر کومه وخته پورې چه تاسو او ستاسو معنوی وجود په خپلو منځو کښې د یو بل سره ملگری او هم نفس وی.

لیکن که داسې نه وی، نو په دې صورت کښې هم داخبره ضروری نه ده چه تاسو ته بدوویلی شی.

داحکه چه که د کور خلك په خپلومنځو کښې سره متفق نه وی، نو داخبره ضروری نه ده چه دغه کورنه دی غله ورننوځی او داخبره هم امکان لری چه د کور نفاق بوالځی په کور کښې محدودپاته شی او دباندې تجاوزونه کړی.

لکه چه داخبره امکان لری چه د بوجهاز چې دی ماتی شی او سره ددې دی هم هغه داوبو په مخ ولاړ پاته شی او ډوب دی نشی.

او داخبر ضرور نه ده چه هغه دې اورمرو ډوب شی.

تاسو دهغه وخته پورې نیك یاست ترڅوچه تاسو دخپل وجود کومه برخه نورو ته ور کولای شیء.

تاسو بوالځې له دې کبله نشیء بد کیدلای چه تاسو دخپل ځان له پاره د کښې کوم شوق او خواهش ولریء.

دا ځکه چه په کوم وخت کښې چه تاسو ددنیا او فطرت څخه د کوم شی دحاصلولو دپاره زیار باسیء! نو په دغه وخت کښې ستا سومثال دونی دهغې ریښې په څیر دی چه هغه دمجبورتیا له کبله خپل ځان په ځمکه پوری ونښلوی او په دغه طریقه دخپلې موریعنی دځمکې له سینې څخه دخپل ځان دپاره غذا حاصله کړی.

که دا ریښه داونه کړی نو څه وکړی؟

په دې خبره کښې هم شك نشته چه دغی ونی میوه داحق نه لری چه دغې

ریښی ته داووائی چه ته هم ماغوندي شه ! یعنی دخوږوالی او شربت څخه ډکه شه!

اوددې وینا حق ورته هم نه لری چه زما په څیر ته هم خپل نعمتونه په نورو وویشه!

داځکه چه لکه څنګه چه دمېوې له پاره داخبره لازمه ده چه خپل نعمتونه په نورو وویشی- هم دغه شان دریښی دپاره هم داخبره لازمه ده چه هغه دنورو څخه خپله غذا حاصله کړی.

تاسو په هغه وخت کښې نیك یاست په کوم وخت کښې چه تاسو دبیداری په وخت کښې متکلم یاست .

لیکن که تاسو دخوب په حالت کښې ګډې وډې خبرې کوی نو په دغه صورت کښې داخبره ضرورنه ده چه تاسو ته څوك بدووائی .

یوه نښتېدونکی ژبه هم که په غیر مسلسل دول خبرې وکړی نو هغه هم مجهوله نشی ګڼلې .

په هم دغه ډول که تاسو دمېړونو په څیر دخپل مقصد په لور دمېړانی قدمونه واخلی!

نو په دې صورت کښې تاسو ضرور نیکو کار یاست ! مګر که تاسو دخپل هدف او مرام خوانه ګوډ ګوډ او ورو ورو روان یاست ! نو په دې صورت کښې هم تاسو ته بد کار نه شی ویلای .

ځکه کوم خلك چه دخپل مرام په لور ګوډ ګوډ روان وی په هر صورت مخ په وړاندې ځی.

کوم خلك چه بالکل په ځای ناست وی او له خپل ځای نه نه خوځېږی هغوی هم خپل منزل ته درسېدلو خو بونه وینی ،

البته تاسو چه قوی او ګړندی روان یاست دې خبری نه هم ملتفت اوسی! چه دګوډا نو سره خپل ځانونه پردې عقیده ګوډ نه کړیء.

چه دا کار دځوان مردۍ او مروت تقاضا ده

نو تاسو مخ په وړاندی ځیء. لیکن ګوډا نو ته په سپکه سترګه مه ګوری!

دا ځکه چه هغوی هم ستاسو دهدف خوا ته راځی .

که ستاسو رفتار سست هم وی، نو په دې صورت کښې هم تاسو ځانونه ګوډ مه ګڼیء

که څه هم ستاسو په ژوند انه کښې په زرګونو جنبې دنیکۍ او ستاسو په منځ کښې حایلی وی .

مګر دا کومه ضروری خبره نه ده چه که تاسو نیك نه یاست نو سر و مر و به بد یاست.

که ډېر جرئت و کړیء نو تاسو ته به دومره ووائی چه تاسو کاهل او یا ګمراه یاست!

نو د ګمراهۍ سره دا خبره تړلې نه ده چه تاسو به ځان هم ورك کړیء !

ارمان چه هوسۍ شیشتۍ نه خپله تیز رفتاری نشی ورزده کولای.

مګر هغه دا هم نه شی ویلای چه رفتار یوا ځې زما په برخه دی او شیشتۍ په رفتار کښې هیڅ برخه نه لری !

نو اې خلکو ! چه تاسو دنیکو او بدو په امتیازاتو کښې بوخت شوی یاست!

حقیقت دادیء چه دخواهشاتو کوم اجمال چه ستاسو په وجود کښې دیو لوی مقصد دپاره موجود دی

هغه به حقیقت کښې دټولو نیکیو اساس دی

هغه رجحان چه په تاسو ټولو کښې شته دی.

په دغه رجحان کښې فرق دادی چه په ځینو خلکو کښې دغه رجحان دهغه تېز بهیدونکی دریاب په شکل موجود وی چه هغه ډېر ګړندی دسمندر په لور روان وی او دهیڅ کوم بولوی غراویانورو تړواوونو او ځنګلونو پروانه کوی.

په ځینو کښې دغه رجحان دیوې چینې په شکل موجود وی چه دیو ځایه پورې دغه او به بهېدلې او بیا په ځمکه کښې غیبی شی.

دغه او به سمندر ته ځان نه شی رسولی، لیکن سره ددې هم دغه او به دسمندر خوا ته دبهیدلو کوښښ کوی.

نو په دې صورت کښې هغه شخص چه په هغه کښې دطلب قوت ډېر او زیات دی هیڅ کله یو کمزوری شخص ته دانشی ویلی چه ته ولې لټ او سست یې! او ته ولې ژرنشی تللای!.

دا ځکه چه کوم خلك چه حقیقی نیك وی. هغوی هیڅ کله دیو بر بنډ او لغړ شخص نه دا پوښتنه نه کوی چه ستا کالی څه شول؟ او نه دهغه چا څخه چه کورئې وران شوی وی دا پوښتنه کوی چه ستا کورولی وران شوی دی؟.

-٢٢-

بیا یوه مرشد وویل:

«مونږ ته د دعا په خصوص کښې څه ووایه!»

هغه وویل:

تاسو د مصیبت او احتیاج په وخت کښې دعا ګانې کوئ!.

ارمان چه تاسو د خوشالتیا په وخت کښې هم د دعا د پاره د شکران لاسونه پورته کولای.

په هغه وخت کښې چه ستاسو زړونه د ډېرې خوشحالۍ نه باغ باغ وی.

تاسو د دغه خپل مهربانه او ګران مېلمه د پاره هم د دغه باغ په یوه څنډه کښې لږ ځای ورکولی، او د خپل زړه په دغه خلوت خانه کښې مو د دې ګران مېلمه د پاره لږ ځای مخصوص کړی وای.

دعا څه شی دی؟ دعا پرته له دې بل شی نه دی چه دا د یو دا راز کیفیت نوم دی چه په دغه کیفیت کښې انسان خپل نفس په بسیطه فضأ کښې خپوروینی، او د دغه کیفیت په اثر خپل لاسونه خپروی.

په کوم وخت کښې چه تاسو د غمونو تیاری د خپلو اوږو څخه په کومه خلا کښې وغورځوی او خپل ولی له دغه بار څخه سپک کړی.

په دغه وخت کښې ستاسو په زړونو کښې یو ډول نور پیدا شی او دغه نور تاسې خپروی، چه د دغه نور په خپرولو کښې تاسو ارومرو یو ډول حقیقی لاره مومئ.

نو که په دغه وخت کښې تاسو دې کار ته اړ یاست او ارومرو دغه کار کوئ نو په دغه وخت کښې چه ستاسو روح تاسو دعا کولو ته رابولی او تاسو دعا کولو ته اړ کوی، نو په دغه وخت کښې تاسو دخپلو اوښکو سره په لندو ستر ګو دغه میدان ته ور ګډېږئ.

نو دغه وخت به څومره نیکمرغه او مسعود وی چه په دغه وخت کښې ستاسو روح تاسو بیا بیا دغه میدان ته ور وړاندی او مخ کښې کړی.

تاسو هم دغه میدان ته په ښه ډول ور ننوزئ دخپلو آهونو او اوښکو سره په پوره ډول دغه میدان ته ور داخل شئ. او څو څو واره دغه میدان ته د اوښکو او ژړا ګانو او آهونو سره ور داخل او په ډیره خندا او خوشحالۍ له دغه میدان څخه بیرته راووزئ!.

په کوم وخت کښې چه تاسو په دعا مشغولېږئ او په دغه میدان کښې ځانونه ورك کړئ نو تاسو دې حقیقت ته ملتفت اوسئ چه تاسو په دغه وخت کښې یوی داسی فضا او ماحول ته ور پورته کېږئ او د داسی خلکو دارواحو سره یو ځای کېږئ چه هغوی په دغه وخت کښې د دعا دپاره لاسونه پورته کړی وی او له دینه وړاندې تاسو د هغوی سره نه یاست یو ځای شوی نو باید تاسو د دعا او مناجات په خونه کښې ستاسو قدم بی د وصال د دعه کیف د حصول څخه د کوم بل مقصد دپاره کښې نه ښودلای شی.

دا ځکه چه تاسو دغی خونی ته یوا ځی دغو ښتلو او د کوم شی دا خیستلو دپاره ور ځئ، نو په دغه صورت کښې به تاسې ته هېڅ شی درنه کړ بشی.

که تاسو دغه دربارنه بواځی دخپل عجز دمظاهرې دپاره ورځیء نو په دغه صورت کښې به تاسو شرمنده بیرته راځیء.

که تاسو دغه ځای ته بواځی دنورو دحق دسفارش دپاره ورځیء، نو تاسو په کوم حیثیت او مقام دغه کارونه کویء چه دهغه په اثر ستاسو خبرو منله شی.

نو ستاسو دپاره ښه کار دادی چه تاسو دغه نامعلوم ځای ته په نا معلومه طریقه ورځیء.

زه تاسو ته دغو ښتلو او سوال کولو الفاظ او طریقه نشم ښودلی او نه ما ته دغه الفاظ او طریقه معلومه دی.

په دغه معبد کښې ستاسو الفاظ هیڅوك نه اوری ترڅو چه دغه الفاظ هغه الفاظ نه وی چه هغه الفاظ دغه مقدس پاك روح ستاسو په خوله کښې اچولی وی.

زه تاسو ته دسمندر ونو او غرونو او میرو او ډاګونو دعا ګانی نشم در ښودلی مګر تاسو چه ستاسو دپاره داغرونه او ډاګونه ټول پیدا شوی دی په خپله دهغو دعا ګانی په خپلو زړونو کښې موندلای شی.

که تاسو دشپو په تورو تیارو کښې ښه ځیر شیء او غوږ کښېږدیء نو تاسو به دسمندر دڅپو او دډاګونو دونو او بوټو څخه داواوریء:-

ای زمونږ خدایه! ته زمونږ دوجود خالق یې! او مونږ ستا دحقیقت عکسونه یو، ستا رضا په مونږ کښې ده، کوم حکم چه ته کوې هم ستا دمطلب جذبه په مونږ کښې پټه ده چه هغه جذبه مونږ ته ستا طلب راښیی!

ستا تقاضا هم هغه ده چه زمونږ دشپو څخه چه ستا شپې دی ورځی جوړ وی هغه ورځې چه هغه هم ستا ورځی دی، مونږ له تا څخه هیڅ نشو غوښتلای، او

داځکه چه ته زمونږ داحتیاجاتو څخه دهغو دپیدا کولو نه ډیر یخوا خبر او واقف یې !

هم ته زمونږ ضرورت ئې او هم تا ته زمونږ احتیاج دی .

هر کله چه ته مونږ ته دخپل وجود څخه یوه برخه راکړی چه هغه باید مونږ ته راکړیشی نو مونږ له تا څخه نور څه وغواړو ؟ !

— ۲۳ —

بیا یو جوګی چه په کمال کښې به یو ځل ښار او ودانۍ ته راته راوړاندې شو. او پوښتنه ئې وکړه :

مونږ نه دعیش په شا او خوا کښې څه ووایه!

هغه ورته په ځواب کښې وویل:

عیش دآزادۍ یوه بدله ده .

مګر په خپله آزادی نه ده .

بلکه هغه ستاسو دهلیو یوه غوټۍ ده .

مګر دآزادۍ میوه نه ده .

هغه دقفس د مارغه یو پراوزدی .

مګر دپرواز فضا نه ده - او نه په خپله پروازدی .

په دې خبره کښې شک نشته چه عیش دآزادۍ یوه بدله ده .

زه به په دې ډیر خوشحاله شم که تاسو دخپل زړه دهیلو سره دغه بدلی ووایی او زه ستاسو دغه بدلې په خپلو غوږو واورم .

مګرزه دانه غواړم چه تاسو خپل زړونه دغو بدلوته وسپاری.

که څه هم ځینی ځوانان ددی شی دپلټنی دپاره دومره کوښښ کوی چه ګویا دغه ددوی دژوندون محصول دی.

بیا تاسو په هغو تنقیدونه کوی. او هغوته په قهر کیږی.

مګرزه نه په هغو تنقید کوم، او نه هغوته قهر کول خوښوم.

بلکه زه خوداغواړم چه هغوی خپل عیش جاری وساتی

داځکه چه که هغوی عیش وموند، نو بوا ځی به ئی نه مومی.

دده (۷) خوبندی دی او په هغو اوو کښی هغه خور چه په ښکلی توب کښی له تولو څخه کمه ده، هغه هم دعیش نه ډیره زیاته ښکلی ده.

آیا تاسو دهغه شخص قصه نه ده اوریدلې چه دا کوښښ ئی کاوه چه یوه ونه له بیخه راوباسی مګر په دغه لړ کښی ئی ددغی ونی لاندې هغه یوه پټه خزانه وموندله، او په تاسو کښی اکثر دیر سپین زیری او پخوانی خلك تری ښادی او عیشونه یه یوداسی ارمان او حسرت یادوی چه ګویا هغه یوه غټه ګناه وه چه له دوی څخه دمستی او بی هوښی په حالت کښی صادره شوې وه.

مګر پښیمانی خوداسی مثال لری لکه چه انسان په زور دزړه ستر ګی په یو توکر وتری او پټی ئی کړی.

مګر دغه کار دیوی ګناه سزا نشی کیدلای.

دوی نه به کار دی چه دعیش او عشرت نیروختونه یه ډیره شکر ګزاری سره یاد کړی او داسی ئی یاد کړی لکه څنګه چه خلك به حاضر کال کښی دتیر کال شنه فصلونه او سمسور باغونه یادوی.

دپښتو ټولنی دتیر کال خپرونی

۱: لوړ خیالو نه اوژور فکرونه

۲ : داور لمبې

۳ : پښتانه داقبال په نظر کښی

٤ : منطق

٥ : افغان قاموس

٦ : پښتو نثرونه

۷: پریشانه افکار:

۸: نړۍ په دوه زرم کال کښی

۹ : افغان قاموس دوهم ټوک

۱۰: دحنان دیوان

نوی چاپ شوی کتاب

۱ : پښتنی دودونه

کابل مجله

تاسی کولای شیء چه په کابل کښې په (٤٠) افغانۍ په دننه هیواد کښی په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په (۱۲) کلداری په نورو د باندنیو هیوادونو کښی په (۳) دالره لاس ته راولیء

دښوونځیو زده کونکو ته په نیمه بیه.

دیوه کال داشتراك دپاره په کابل کښې همدغه بیه دپښتو ټولنی دمحاسبې مدیریت ته او په ولایاتو کښې دهمدی مؤسسی دجاری شمېر په (۷۸۷٥) لمبر افغانستان بانك ته سپاړل کېږی

راغلی لیك

ور وسته ترالقا بو . . . . ! دپښتون جرگې هند، بمبیې نه

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته خیر مونصیب شه!

عرض دادی چه تاسو دپښتو ټولنی له طرفه چه کوم کتابونه مجلې ته را لیږی، نو هغه را رسی، او مونږ ټول دجرگې ممبران سره د نور و ملگرو ددې مهربانۍ شکریه ادا کوو، امیددی چه دا یاده او نمانځل به هیر نه کړی شی، ولې چه بمبیی دهند یوه اخره حصه او دپښتو په کښې زیات ضرورت دی، او بله دا چه زمونږ معلومات اضافه کیږی او یو تر بله مرسته زیاتیږي، یو دپښتو اخبار که چیری تاسو جاری کړی نو لو یه مهربانی به مووی، بعضی کتابونه مونږ سره نشته، لکه پښتنی میرمنې د بینو ا افغان قاموس دښاغلی عبدالله افغان تالیف، دپښتو دزده کولو دپاره که چرې نور کتابونه وی نو سره ددې کتابونو که راولیږلی شی نو مهربانی به مووی فقط «تاج محمد خلیل»

ځواب:

د کابل د وور ځپانو (هیواد او زیری) ته موستاسی آدرس وښود او سپار پښت موو کړ چه تاسی ته خپلی خیرونی درولیږی دپښتنې میرمنی او افغان قاموس کتابونه چه تاسی غوښتی و درولیږل شول. هیله لرو چه هیر مونه کړیء او خپلی لیکنی کله کله را استوی (اداره)

دولتی مطبعه